# د پرمختګ پر لور؛

(ولسمشر ته د ښې حکومتولۍ په پار د ۴۳ طرحو ټولګه)



عبیدالرحمن رحیمي

**د کتاب ځانګړتیاوې:**

**د کتاب نوم: د پرمختګ پر لور؛** (ولسمشر ته د ښې حکومتولۍ په پار د ۴۳ طرحو ټولګه)

**لیکوال:** عبیدالرحمن رحیمي

**ډیزاین:** عبیدالرحمن رحیمي

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸ هـ ش

**چاپځای:** مطبعه تمدن شرق

**کمپوز:** عبیدالرحمن رحیمي

**ددې کتاب هر ډول چاپ او خپراوي حقوق له لیکوال سره خوندي دي.**

# ډالۍ!

**د افغانستان منتخب ولسمشر جلالتمآب ښاغلي محمد اشرف غني ته په ټوله اسلامي او افغانۍ مینه.**

# مننليک

**له ګران ملګري ښاغلي اسدالله زمري څخه يوه نړۍ مننه، چې د کتاب د چاپ لګښت يې په غاړه واخيست. کور يې ودان، ملګري مو پياوړې او غښتلې اوسه.**

**مينه او مننه**

# د پيل خبرې

وبعد!

ښه حکومتولي، د حکومت پر دندو او ښه اجراء ټينګار کوي. ښه حکومتولي دې ته وايي، چې يو دولت او سازمان خپلې دندې له فساد او تبعيض څخه په پاک ډول د هېواد د نافذه قوانينو په چاوکاټ کې تر سره کړي. يا په بل ډول، دولت خپلې دندې په منصفانه او بې پرې ډول سرته ورسوي.

ښه حکومتولي د عامه چارو د داسې سرته رسولو په مانا ده، چې په کې روڼتيا، حساب ورکونه، عامه مشارکت او ګډون، د قانون حاکميت او عدالت په نظر کې نيول شوي وي. ښه حکومتولي خلکو ته د نظام د مشروعيت په اړه ډاډ وربخښئ او په ټولنه کې سوکالي، اعتدال او نيکمرغي رامنځته کولای شئ.

ښه حکومتولي يوه جامع او ټولشموله سيستم دی، چې د ګډون او ملي مشارکت پر بنسټ رامنځته شوې وئ او د انساني حقونو پوره پوره درناوی ولري. د ښې حکومتولۍ لپاره د ملګرو ملتونو سازمان اته ځانګړنې په پام کې نيولې دي، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ ګډون ۲ـ د قانون حاکميت ۳ـ روڼتيا ۴ـ ځواب ورکونه ۵ـ د ارزونو انسجام ۶ـ عادلانه ګډون ۷ـ حساب ورکونه ۸ـ کفايت او اغېزمنتيا

دا چې ښه حکومتولي د ټولو غوښتنه ده، په دې آساس بايد خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره حکومت ورته ځانګړې پاملرنه وکړي. دا چې ښه حکومتولي زمونږ په هېواد افغانستان کې ډېره مخينه نه لري او په دې برخه کې له بده مرغه تر اوسه هم ځينې خنډونه شتون لري، چې له ځنډ پرته بايد ور سره مبارزه وشئ.

د ښې حکومتولۍ په برخه کې د رسنيو، ديني عالمانو، روحانيونو، قومي مخورو، متنفذينو او ټولو خلکو ونډه حتمي ده، چې بايد په دې برخه کې دولت د دوي همکاري تر لاسه کړئ.

د ښې حکومتولۍ يو له ځانګړتياوو د ملت او دولت ترمنځ د واټن له منځه وړل دي. د ښې حکومتولۍ د رامنځته کولو لپاره تر ټولو مهمه دا ده، چې دولت د هېواد ټولو قومونو او اقشارو ته له هر ډول تبعيض او توپير پرته په خپله غېږه کې ځای ورکړئ.

په دې اساس مې وغوښتل چې د هېواد د پرمختګ، ښې، قانونمندې او اغېزمنې حکومتولۍ د پراختيا او پاللو لپاره ولسمشر ته د خپلو ۴۳ طرحو ټولګه وړاندې کړم. هيله لرم، چې په دې برخه کې ورته لازمه پاملرنه وکړي.

**عبيدالرحمن رحيمي**

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشیان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

**د پرمختګ پر لور؛** *(ولسمشر ته د ښې حکومتولۍ په پار د ۴۳ طرحو ټولګه)*

## لومړۍ طرحه

- **ګډون او عامه مشارکت**(د افغانستان ټولو قومونو ته په حکومت کې د عادلانه ونډې ورکړه).

دا چې افغانستان په بېلابېلو قومونو او ټبرونو رغېدلی دی او ډېر کله کورنی سیاسي کشمکش او اختلاف ددغه قومونو تر منځ د واک پر سر رامنځته شوی دی. ځینې وخت بیا همدا سیاسي کشمکش او ناندرۍ د وینې بهولو او سرونو د قربانۍ تر سرحده رسېدلي دي. که د هېواد او نړۍ تاریخ ته نظر واچوو، ډېر کله هلته هم د واک پر سر شخړو او لانجو ډېرې ککړې خاورې کړې دي. له هغه وخته چې سیاسي فیلسوفانو د ټولنیز قرارداد نظریه مطرح کړه، باور منځ ته راغی چې په هغه ځمکه(حکومت) کې چې انسان ژوند کوي، هلته د یو لړ حقوقو او امتیازاتو مستحق هم دی، چې دغه حقوق باید دوي ته د دولت له لوري برابر او پرته له کوم توپیر ورکړل شئ. په هره ټولنه کې مختلف قومونه او انسانان ژوند کوي، چې د خپل استعداد، فعالیتونو او ځانګړو وړتیاوو لروونکي دي او د همدې ځانګړنو په لرلو سره د یو لړ حقوقو او امتیازاتو د ترلاسه کولو حق لري، چې باید د دولت له لوري ورکړل شئ. که د دوي دغه حقوق او امتیازات د دولت له لوري نالیدلي ونیول شي، د حکومت په وړاندې ولاړیږي او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره غبرګونونه ښیئ، چې ممکن په هېواد کې د بې ثباتۍ او ناامنۍ لامل شي. پس د ښې حکومتولۍ او د ټول منلي نظام د رامنځته کېدو لپاره باید حکومت د افغانستان ټولو قومونو ته په یو شان ونډې او برخې قایل شئ، داسې چې هر یو له دې قومونو په حکومت کې ځان شریک وګنئ. دا شراکت یا په مستقیم او یا هم د خپلو استازو په درلودلو د دوي لپاره د حس وړ وأوسئ، چې همدا د ښې حکومتولۍ په لور لومړی ستر او اغېزمن ګام دی او همدارنګه د ښې حکومتولۍ یو له تعریفونو څخه هم همداسې مانا او مفهوم لري، چې ښه حکومتولي یوه جامع او ټولشموله سیستم دی، چې د ګډون او ملي مشارکت پر بنسټ رامنځته شوې وئ او د انساني حقونو پوره پوره درناوی ولري.

دا چې ګډون او ملي مشارکت د ټولو افغانانو طبعي حق او فطري غوښتنه ده، دولت ته لازمه ده، چې د ښې حکومتولۍ د عاملو او پراختیا لپاره دغه ډول کړنلار(ګډون او عامه مشارکت) له ځنډ پرته عملي کړي. له یوه طرفه به دا کار د حکومت او خلکو تر منځ شته واټن کابو کړي او له بل لوري به په دولت د خلکو د باور د زیاتېدو تر څنګ له دولت سره د همکارۍ او مرستې لپاره زړه هم ښه کړي.

د کورنیو کشمکشونو یو لامل او دلیل په دولت کې د عادلانه ګډون نه شتون دی، چې له امله یې دا ډول کشمکشونه په کم وخت کې پراختیا مومي. پس دولت ته لازمه ده، چې د ښې او غوره حکومتولۍ د رامنځته کولو او خلکو ته دښو او اغېزمنو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له هر څه وړاندې یو ټولشموله نظام، چې د افغانستان ټول اقوام په کې له هر

ډول توپیر پرته په مساوي او برابره توګه ونډه ولري. همدا به دښې او اغېزمنې حکومتولۍ په لوري یو ستر ګام وئ.

**دوهمه طرحه**

- د جګړې قربانیانو ته ځانګړې او هر اړخیزه پاملرنه:

له بده مرغه تېرو جګړو د افغان ملت لپاره تر ټولو بدې او ترخې تجربې درلودې. دغه جګړې که له یوې خوا پردی او تپل شوې وې، له بل لوري تر ټولو زیاته قرباني یې افغان ملت پرې کړه. جګړه د یوه ملت لپاره تر ټولوستره بدمرغي ده. له بده مرغه افغان ملت له شاوخوا اته لسیزو را په دېخوا د آرام ساه نه ده کښلې او څلور لسیزې یې پرته له وقفې په عملي ډول دغه بدمرغي مشاهده کړه. دولت ته پکار ده، چې د ښې حکومتولۍ او خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د جګړو قربانیانو ته پرته له هر ډول توپیر په نظر کې نیولو سره یو ډول پاملرنه وکړي او د دوي لپاره د ژوند هر اړخیزې آسانتیاوې برابرې کړي. دا آسانتیاوې باید په هره برخه کې په نظر کې ونیول شئ. لکه: په سیاسي، اقتصادي، ښوونه او روزنه، ټولنیزه او ورته نورو برخو کې. په دې کار سره به مو له یوې خوا د شهیدانو وینو ته درناوی کړی وي او له بل لوري به د امنیتي او دفاعي ځواکونو د روحیې د لا پیاوړتیا لپاره هم اغېزمن تمام شوی وي.

د جګړې ډېری قربانیان اړمن او نېستمن دي، دوي د ژوند کولو لپاره حداقل اړتیاوې نه لري او په دې برخه کې د زیاتو ننګرونو سره مخ دي. دولت ته پکار ده، چې په دې برخه کې د ځانګړې پاملرنې تر څنګ له دوي سره د هر اړخیزې مرستو او د ژوند د آسانتیاوو د برابرولو لپاره له نړیوالو او په کور دننه د پانګوالو څخه د مرستې غوښتنه وکړي.

**درېیمه طرحه**

- د زور واکو په وړاندې جدي مبارزه او د واک د انحصار ختمول:

زور واکي زمونږ په تېر تاریخ کې هم تر سترګو کېږي، ولې ننی ګراف او کچه یې د پخوا په پرتله د اندېښنې وړ ده. له بده مرغه له تېرو لسیزو را په دېخوا دغه لوبې په چټکۍ پراختیا موندلې او د یوه منلي فرهنګ په توګه دود شوې ده. له بده مرغه باید یادونه وکړو، چې لا تر اوسه هم ددغه ستونزې سره جدي مبارزه نه ده شوې او په بشپړ ډول نه ده ختمه شوې. دا هم یو له جګړو او نا امنیو زړېدلې پدیده ده. دا چې د ښې او غوره حکومتولۍ آساسي عنصر د قانون یو شان تطبیق دی، په دې آساس دولت باید له هر څه وړاندې ددغه عنصر د تطبیق لپاره زمینه برابره کړي. د زور واکانو شتون یو ډول ملوک الطوایفي نظام رامنځته کوي، چې د ښې حکومتولۍ په وړاندې ستر خنډ دی. پس لازمه ده، چې

حکومت د ښې حکومتولۍ د رامنځته کولو او د قانون د ښه تطبيق لپاره بايد له هر څه وړاندې د واک انحصار ختم او د زورواکۍ فرهنګ په بشپړ ډول له منځه يوسئ.

زور واکي د افغانستان او نړۍ په تاريخ کې خورا اوږده مخينه لري، ولې نړيوال هېوادونه نن په کور دننه له دا ډول ناورين څخه ځان پاک کړی او په دې پوهېدلې چې دا ډول ستونزې د پرمختګ، امنيت او ثبات په وړاندې ستر خنډ دی.

له نېکه مرغه زمونږ په ګران وطن افغانستان کې له تېرو پينځو کلونو را په دېخوا د زور واکو په وړاندې يو څه مبارزه وشوه او تر يوه بريده يې پايله هم مثبته او اغېزمنه وه، ولې له بده مرغه دا پديده په بشپړ ډول له منځه نه ده تللې. زورواکي نه د پرمختګ او د دولت د پلانونو په وړاندې خنډ دی، بلکې د ټولنې د خلکو لپاره هم ستر سرخوږی دی. دولت بايد د ښې حکومتولۍ او خلکو ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له هر څه وړاندې دغه شومه پديده چې اوس په يوه فرهګ تبديل شوې ده؛ په بشپړ ډول له منځه يووسي.

ددغه ستونزې ختمولو لپاره بايد دولت په ملي، دفاعي او امنيتي ځواکونو په رأسونو کې ددغه شومي پديدې سره د مبارزې او له منځه وړلو لپاره وړ، مسلکي او په دې برخه کې جدي مبارزين ځای پر ځای کړي او ولسمشر يې په خپله د اعلی سر قومندان په توګه نظارت وکړئ.

## ځلورمه طرحه

- د ولس غوښتنو ته ځانګړې پاملرنه: دولت له ملت پرته نيمګړی او ضعيف دی او همدارنګه د ملت په ملاتړ تر ټولو قوي او مستحکم کېدلای شي. د ملت ملاتړ کار غواړي، دا کار ځانګړی هنر او طريقې ته هم اړتيا لري. د ولس غوښتنو ته لبيک وېيل د دوي د رضامندۍ او له دولت څخه يې د ملاتړ لامل کيږي. ولسي ملاتړ د يوه قوي دولت د جوړولو تضمين دی. قوي او د ولس له ملاتړ برخمن دولتونه بيا کولای شي، چې په نړيوال ډګر کې ښه ولوبيږي او ښې لاسته راوړنې هم ولري. افغان ولس له جنګ او جګړو ستړی شوی، څلوېښت کاله يې په عملي او ژوندۍ بڼه ددغه تپل شوې جګړې اغېزې محسوسې کړې او په يوه ډول نه يو ډول يې قربانۍ هم ورکړې. ځاني او مالي تلفات يې وليدل او له دې جګړو يې ترخه خاطرات حافظې ته وسپارل. ولس بې شمېره اړتياوې لري، غوښتنې لري او د دوي په لاس رامنځته شوي منتخب دولت ته هيلې او تمې لري.

منتخب دولت ته يې سترګې نيولي، هغه دولت چې دوي په خورا سختو شرايطو کې د رايو تر مرکزونو لاړل او خپل راتلوونکی يې وټاکو او په دې برخه کې يې قربانۍ ورکړې. د دوي له هيلو سره جفا د دوي له رايو سره جفا ده او په اصل کې د ديموکراسۍ په تندي تور داغ دی. برعکس د دوي غوښتنو ته لاس رسی پيدا کول او د دوي ارادې ته ارزښت

د دوي رايو ته ارزښت دی او په اصل کې د ديموکراسۍ اصل ته په درنه کتل دي. پس دولت بايد د ولس ټولو هغه ډول شونو توقعاتو او هيلو ته لاس رسی پيدا کړي او هغه مشبوع کړي، کوم چې د ټولنې د خلکو او ښې حکومتولۍ لپاره لومړيتوبونه بلل کيږي. د خلکو د دا ډول توقعاتو ته لاس رسی په سياسي، اقتصادی، ټولنيزو، فرهنګي او صحي برخو کې له قومي، مذهبي، نژادي، سمتي او ژباني توپير پرته تر سره شي.

دولت دې د يوې لويې جرګې په رابلوو او يا هم په دولت کې د دوي د استازو له طريقه د دوي غوښتنې واوري او د دغه غوښتنو لپاره دې عملي اقدام وکړئ.

**پېنځمه طرحه**

- د جنګي جرايمو څېړنه او په دې برخه کې يې د مجرمينو محاکمه: له بده مرغه تېرو جګړو مونږ ته پرته له بدبختيو، ورانيو، کورنيو مصيبتونو، فقر، بې سوادۍ، فساد، زورواکۍ، د بشري حقونو پايمال، اړو دوړو او ورته نورو ناخوالو بل څه نه لرل. همدې جګړو د مرګ ژوبلې تر څنګ جنګي جرايم هم له ځان سره درلودل.

مور د اولاد، اولادونه د مور، ورور د ورور، پلار د زوي او زوي د پلار د سترګو په وړاندې په ډېره بې رحمۍ ووژل شول. سپين ږيري په بمونو والوزول شول. ماشومان، ښځې او تنکي ځوانان مو بې ګناه په خورا سخت وحشت د مرميو خوراک شول.

زراعت، ښوونځی، صحي مرکزونه، جوماتونه، پوهنتونونه، شخصي ملکيتونه او د خلکو شخصي شتمنی مو د اور په لمبو لولپه شول. له دې ټولو ناخوالو سره سره تر ټولو ډېره بده دا، چې دا هر څه د پرديو په اشارو وشول.

حکومت د ښې حکومتولۍ او خلکو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په پار د تېرې څه کم شل کلنې جګړې ټول هغه جنګي جرايم، چې د ښکېلو لورو له لوري تر سره شوي، وڅېړئ او مجرمينو ته يې د قانون په چاوکاټ کې سزا واوروئ، کوم چې په دغه شل کلنه موده کې تر سره شوي دي.

دا کار له يوې خوا که د حکومت مسؤوليت دی، له بل لوري د ملت غوښتنه هم ده. همدا د حق غوښتلو نعره ده. د حکومت او ملت تر منځ به په دې کار سره د باور فضا پراخه او لا پياوړې شي او خلکو ته به په زړونو کې د حکومت مينه او ښه احساس پيدا شي.

## شپږمه طرحه

- امنیت او ثبات: امنیت او ثبات د په ټولنه کې داسې مثال لري، لکه په بدن کې وینه او یا هم ساه. کله چې په بدن کې وینه او یا هم ساه شتون ونه لري، هغه ته جسد وایه شو او جسد بیا په نه شتون حسابیږي. له بده مرغه باید یادونه وکړو، چې د شاهي دولت له پرځېدو او د ولسمشر سردار داود خان د واکمنۍ له ړنګېدو وروسته افغانستان بیا په بشپړ ډول د امن هېواد نوم خپل نه کړ. نظامونه یو پر بل پسې وپرځېدل، کورنیو جګړو زور واخیست او په هېواد کې ملوک الطوایفي حاکمه شوه.

په هېواد کې د امنیت او ثبات د ټینګښت لپاره حکومت ته ځینې سپارښتنې:

- ✓ د بهرنیو لاسوهنو مخنیوی: په ځانګړې توګه د پاکستان، ایران، روسیې، چین....
- ✓ اقتصادي بډاینه: اقتصادی بډاینه هم د یوه هېواد په امنیت او ثبات رغنده اغېز لري.
- ✓ د ملي یووالي د روحیې شتون: ملي یووالی د هېواد په امنیت، سوله او ثبات کې مستقیم رول لوبوئ او هر اړخیز استقرار او پایښت رامنځته کولای شئ.
- ✓ فساد: د فساد شتون د یوه هېواد د امنیت و ثبات سره نېغ په نېغه اړیکه لري، یعنی په هره کچه چې د فساد ګراف لوړیږي، په هماغه اندازه ناامني او بې ثباتي ډېریږي او برعکس یې.
- ✓ بېکاري: بېکاري هم یو له سترو ناورینونو څخه ګڼل کیږي، چې د ناامنۍ او بې ثباتۍ تر څنګ ډول ډول بدمرغۍ زېږوئ.
- ✓ بې سوادي او د ناپوهۍ ټیټه کچه: بې سوادي او د ناپوهۍ ټیټه کچه هم د ناامنۍ او بې ثباتۍ په برخه کې فعاله ونډه لري، چې دا عنصر یکې په اوږد مهاله بڼه کار کوي.

پس امنیت او ثبات د یوه هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لپاره لومړی شرط او رکن دی. دولت ته لازمه ده، چې د په دې برخه کې له نړیوالو هېوادونو، سازمانونو او ټولنو سره د یوه ګډ او مشترکو تړونونو په آساس دغه هدف ته لاس رسی پیدا کړي.

## اوومه طرحه

- د ګډې همکارۍ لپاره د ښوونې او روزنې په برخه کې له خصوصي سکتور سره د نويو قوانينو رامنځته کول او پراختيا: ښوونه او روزنه د ښې حکومتولۍ يو له اړتياوو او اساسي عناصرو څخه ګڼل کيږي. ښوونه او روزنه په حکومتولۍ مستقيمه او رغنده اغېزه لري. د ښوونې او روزنې لپاره که هر څومره ډېرې هڅې او کوښښونه وشي؛ بيا هم کم دي. په دې آساس دولت ته لازمه ده، چې په دې برخه کې خپله زياته پاملرنه ښوونې او روزنې بهير ته واړوي او په وړاندې يې پراته خنډونه له منځه يوسئ.

له شک پرته چې د هر هېواد په چارو کې د خصوصي سکتور ونډه د پام وړ اغېز درلودلای شي او له دولت سره د همکارۍ په برخه کې ستر رول لوبولای شي. د ښوونې او روزنې د ښې پراختيا او پياوړتيا لپاره لازمه ده، چې دولت په دې برخه کې يو لړ نوي مؤثر او ګټور قوانين رامنځته او اړونده وزارتونو ته يې وړاندې کړي او په دې برخه کې اړينه موضوع دا چې له خصوصي سکتورونو سره هم د دوه اړخيزې همکارۍ هغه ډول قوانين رامنځته کړي، کوم چې په دې برخه کې اغېزمن تمامېدلای شي. ښوونې او روزنې ته د پانګونې په برخه کې د خصوصي سکتورونو پاملرنه جلب کړي او له دوي سره دوامدر او ګټور تړونونه ولري. په دې برخه کې د نړيوالو سازمانونو، هېوادونو او ټولنو برخه هم د پام وړ ده او بايد دوي دې ته وهڅوي، تر څو د ښوونې او روزنې په برخه کې پانګونې او مرستې ته ليوالتيا ښکاره کړي.

د ښې حکومتولۍ لپاره له بنسټيزو شرايطو څخه يو هم ښوونه او روزنه ده. پس دولت ته پکار ده، چې په دې برخه کې له خصوصي سکتور سره هم په ګډه د ځانګړو قوانينو پر بناء يو لړ ګټور او اغېزمن تړونونه رامنځته کړي، تر څو په دې برخه کې سترې لاسته راوړنې ولري.

د ښوونې او روزنې لپاره جدي اړتيا ده، چې دولت په دې برخه کې ځانګړې پاملرنه وکړي او له ځنډ پرته اړين ګامونه اوچت کړي.

**اتمه طرحه**

- د تلپاتې سولې د راوستو، ملي پخلاینې او د جګړو د له منځه وړلو لپاره د آساسي حل لارو د پیدا کولو په پار هر اړخیزې هڅې:

د سولې او ملي پخلاینې کلمه د یوه هېواد له پرمختګ، تمدن، ښه او نړیوال شناخت سره نېغ په نېغه رابطه لري. هېوادونه او ملتونه تر هغې د پرمختګ او تمدن څرک نه شي لیدلای، تر څو چې د سولې او پخلاینې کلمه یې په ریښتیني مانا نه وي پېژندلې او په دې برخه کې یې عملي شاهدان ونه اوسئ.

دا مهال د افغانستان خلک د نړۍ د نورو وګړو په پرتله سولې ته ډېر تږي دي، ځکه دوی پرته له وقفې د تېرو څو لسیزو جګړو شاهدان پاتې شوي او ډېری قرباني ددې تپل شوې جګړې همدې افغانانو پرې کړې، په داسې حال کې چې امتیاز او کرېډېټ یې د نورو جېب ته لوېدلي دي.

د ښې حکومتولۍ لپاره سوله او ملي پخلاینه یو لړ ګټې لري، چې په لاندې ډول ورته ترې یادونه کوو:

ـ کورني او بهرني پانګه وال، پانګونې ته زړه ښه کوي او په دې آساس د هېواد په اقتصاد نېغ په نېغه اغېزه اچوي، خلکو ته د کار و بار زمینه برابریږي او د فقر کچې په کابو کولو کې ستر او آساسي رول لوبوئ.

ـ د لویو او کوچنیو پروژو عملي کولو ته په خلاص لاس لاره هواریږي او په دې اساس د هېواد د پرمختګ لامل ګرځئ.

ـ د سولې او ملي پخلاینې په شتون سره د هېواد لرې پرتو او محرومو سیمو ته د دولت پاملرنه زیاتیږي او هلته خلکو ته د ورځني ژوند لومړنۍ آسانتیاوې برابریږي.

ـ د سولې په شتون سره له هېواده بهر هېوادوال، چې د جګړو او ناامنیو له کبله یې تبنتېدلي دي، بېرته هېواد ته په راستنېدو سره د لته د کار د زمینې په برابرولو سره د هېواد په اقتصادي او ټولنیز وضعیت مستقیمه اغېزه درلودلای شئ.

ـ د سولې په شتون سره به جګړیېزه مفکوره او توتریخوالی ورو ورو له منځه ولاړ شي او نوی نسل به مو په ښه او متمدنه فضا کې له نویو طرحو او جوړونو سره رالوی شي او هېواد به مو ورو ورو د سوکالۍ او آبادۍ په لور ګام اخیستلو ته چمتو شي.

پس حکومت ته لازمه ده، چې له هر څه وړاندې سوله خپله عملي تګلاره او لومړیتوب وټاکي او په دې برخه کې ځانګړې پاملرنه ولرئ. له ممبرونو څخه د سولې او ملي پخلاینې

غږ پورته کړي، ديني عالمان، قومي مخور، متنفذين او مشران د سولې او ملي پخلاينې لپاره غږ اوچت کړي او خلکو ته په دې اړه عامه پوهاوی ولېږدوي.

**نهمه طرحه**

- له اسلامي هېوادونو سره د اړيکو د پراختيا لپاره ځانګړې پاملرنه: له افغانستان سره د اسلامي هېوادونو متقابلې اړيکې ددې هېواد په بهرني سياست، اقتصاد، فرهنګ... برخو مستقيمې اغېزې لري. اسلامي هېوادونه په يو نه يو ډول د افغانستان په سياست اغېز درلودلای شي، ځکه زمونږ او د دوي د اړيکو تر ټولو مهمه ريښه په اسلامي او ديني ارزښتونو کې ده. همدا ددې لامل ګرځېدلی، چې دغه اړيکې به غوښت ناغوښت په دوامداره توګه په يو ډول نه يو ډول شتون لري.

دولت ته پکار ده، چې له اسلامي هېوادونو سره هر اړخيزې اړيکې لا پياوړې او وپالي، ځکه د ګډو ګټو تر څنګ ګډ اسلامي ارزښتونه هم لرو. دولت بايد د اسلامي نړۍ د علماوو او د افغانستان د علماوو تر منځ د وصل کړۍ رامنځته کړي او د اسلامي نړۍ د علماوو له څېړنيزو مرکزونو سره يې ونښلوي. د نورې نړۍ په پرتله بايد دولت له اسلامي هېوادونو سره د تګ راتګ په برخه کې آسانتياوې رامنځته کړي او هلته ورته له نورو بختياوو سره سره د کار زمينې هم برابرې کړي، چې په دې برخه کې نېک نوم هم لري. همدارنګه له دوي سره د ښوونې او روزنې په برخه کې د افغان محصلانو ورپېژندل.

له دې علاوه په هېواد کې د نفتو، ګازو، ټرانزيټ او بانکدارۍ کې د اسلامي نړۍ پاملرنه راجلبول او په دې برخه کې له دوي مرسته غوښتل او د ګډې همکارۍ او مشترکاتو له مخې دوه اړخيزه همکاري پياوړې کول بايد د دولت له لومړيتوبونو څخه وي.

**لسمه طرحه**

- پر بشري سرچينو پانګونه: په پرمختللو هېوادونو کې پر بشري سرچينو پانګونه د منځنۍ طبقې رامنځته کولو لپاره مرکزي ارزښت درلود. له دغه مېکانېزم څخه د نولسمې پېړۍ د منازعو رفع کولو لپاره ګټه پورته شوې، چې د ثابت ډېموکراتيک سياسي چلند لپاره زمينه برابروي. له دې سره د مسلکونو پيدايښت، چې تر يوه بريده پوهنتونونو د هغه په پراختيا او وده کې رول لرلی، د ټولنيز خوځښت لپاره ډېر ارزښتناک وخوت. اوس د ټولنې اقتصادي توان او وده د لوستو او روغو خلکو په شتون پورې تړلې. څومره چې بشري سرچينې د په نړۍ کې د شتمنيو په رامځته کولو کې د پانګونې د پانګو نورو بڼو په پرتله اهميت پيدا کوي، پر پوهنتونونو عامه پانګونه هم په هماغه کچه ارزښتمنېږي. په بشري سرچينو پانګونه په عمل کې فوري ګټه لري. دغه راز پر عامه روغتيايي سکټور پانګونه هم همدومره ارزښتناکه ده.

په ټولنيزه پاليسۍ د تابعيت – چې جندر، قوميت، توکم، طبقې، موقيعيت او مذهب په کې ځای لري- حقوق اخيستل د تجربو پر آساس د آبادۍ او ثبات لپاره ارزښت لري.[۱]

---

[۱](د ناکامو دولتونو رغاونه). محمد اشرف غني او کلير لاکهارټ

**یوولسمه طرحه**

- د نظامي تګلارې پر ځای؛ پر سیاسي تګلارې تأکید: سیاسي تګلاره د نظامي تګلارې په پرتله آسانه او آرزانه لار ده. ننی نړۍ دا ایجابوي، چې خپلې ستونزې د خبرو اترو له لارې حل کړي. روابط له سیاسي لارو وڅاري او په دې لاره کې خپلو موخو ته ورسیږي. مونږ ډېرکله په تاریخ کې د تورو ښاغلي پاتې شوي یوو او ډېرکله مو جګړې ګټلي. د نورو هېوادونو پر پولو مو د خپلې بریدونه کړي او په دې برخه کې مو لاسته راوړنې هم درلودلي دي. د جګړو مخنیوی ممکن د جګړو له ګټلو سخت کار وي. د جګړو ګټل په نظامي ځواک، روحیه، عقیده او ورته نورو موضوعاتو پورې اړه لري، خو د جګړو له پیښېدو وړاندې مخنیوي او په دې برخه کې یوه توافق ته رسېدل د قوي سیاست، پیاوړې رهبرۍ، غوره مدیریت او ځانګړي هنر له لارې شوني دی.

دقیقه سیاسي تګلاره او قوي رهبري ددې لامل ګرځي، چې یو هېواد خپلې اړیکې د اوږد مهال لپاره وساتلی شي او له دې لارې ملي ګټې په نړیوالو ومني.

د جګړې ګټل یوازې د هر څه د ګټلو په مانا نه شي کېدلای، ولې د سیاست ګټل د ډېر څه د کټلو په مانا دي. د ښې حکومتولۍ او په دې برخه کې خلکو ته د غورو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره دولت اړ دی، چې په ملي او نړیوالو مسائلو کې خپله پاملرنه د نظامي تګلارې پر ځای سیاسي تګلارې ته واړوي/ زیاته کړي، ځکه له یوې خوا ځانګړی لګښت نه لري او له بل لوري تلفات.

نړۍ هم اوس په دې پوهېدلې ده، چې د هر جنګ پایله سوله ده. سوله د خبرو اترو له لارې او د غوره سیاست پر مټ ژر کېدای شي. همدا لاره په کم وخت او کم لګښت هدف ته د رسېدو لپاره اغېزمن تمامېدلای شئ.

## دوولسمه طرحه

- د بهرنیو مرستو جلب او ددغو مرستو په ډول مدیریت او څارنه: په اوسنیو شرایطو کې مو هېواد له بل هر وخت د لاسنیوي اړتیا لري، ځکه له یوه لوري د بهرنیو ځواکونو وتل، د نړیوالو مرستو کمېدل د پخوا په پرتله، د جګړې شدت او په د هېواد نامعلوم او مبهم برخلیک، په کور دننه سیاسي کشمکشونه هغه څه دي، چې د کلک او دقیق مدیریت تر څنګ زیاتې پانګې ته هم اړتیا لري. له سولې او د جګړو له نسبي کموالي وروسته مو هېواد بیارغاونې ته اړتیا لري او په دې برخه کې بیا هم یوه زیاته اندازه پانګې ته اړتیا لیدل کیږي، چې له بده مرغه ددغه پانګې توان له افغان حکومت سره نه لیدل کیږي. دې او دې ته د ورته مسائلو لپاره دولت ته لازمه ده، چې په یوه ځانګړي هنر او له نړیوالو سره د ګډو او مشترکو ګټو په اساس دوي دې ته وهڅوي، تر څو د افغانستان په بیارغاونه او پرمختګ کې فعاله ونډه ولري.

هغه هېوادونه باید په دې وپوهول شئ او قناعت ورکړل شي، چې د دوي هغه لګښت چې په تېرو کې په افغانستان کې د جګړې لپاره پرې کاوه اوس دې دا لګښت له سولې وروسته د دې هېواد په بیارغاونه او پرمختګ کې هم ولګوي. دا کار به د دواړو هېوادونو په خیر او هر اړخیزه ګټه تمامېدلای شي. همدارنګه د نړیوالې ټولنې، نړیوالو سازمانونو او هېوادونو پاملرنه په دې برخه کې ګټوره او اغېزمنه تمامېدلای شئ.

له تېرو لس او پینځه لس کلونو څخه را په دېخوا افغانستان ډېرې بهرنۍ مرستې جلب کړې، ولې له بده مرغه چې دغې مرستو ډېر کم ځای ونیو او ډېرکم په خپلو او وړ ځایونو کې ولګېدې او ډېرې یې د ضعیف مدیریت او نه څارنې له امله شخصي جېبونو او بهر ته واستول شوې.

دولت ته د ښې حکومتولۍ د ښې حکومتولۍ د پیاوړتیا او پراختیا لپاره اړتیا ده، چې دغه مرستې جلب او تر جدي څار لاندې ونیسئ، تر څو په اړونده او وړ ځایونو کې ولګېږي.

**دیارلسمه طرحه**

- د انکشافي پروژو پراختیا او د عامه شتمنیو څارنه او مدیریت: انکشافي پروژې اوس په دودییز عمل بدلې شوي. نړیوال او سیمه ییزو بانکونو، د ملګرو ملتونو اداري، ناحکومتي او دوه اړخیزو ادارو ټولو پروژې د پرمختګ آساسي وسیله بللې ده.

یوه پروژه هغه مهال ګټوره ده، چې تر نورو ښه حالت ولري او د ملي لرليد، مشرتابه او د مديريت له ملي ظرفیت سره سمون ولري. عموماً یوه پروژه د تخنیکي مرستو د پانګې له خوا تمولیږي او بیا په یوه مشورتي شرکت کې د ملګرو ملتونو یا یوې ناحکومتي ادارې ته ورکوله کیږي.

پروژه ډېر کله ددې هدف په پار د ایجاد شوي مخصوص په وسیله تطبیقیږي. دغه لنډه طریقه ډېره اغېزمنه ده. پروژه معمولاً د دونرانو او مرسته اخیستونکي حکومت تر منځ یو قانوني هوکړه لیک دی.

انکشافي پروژې د یوه هېواد د آبادۍ لپاره غوره سرچینه ګڼل کېدای شي.

عامه شتمني هم یو له مهمو موضوعاتو څخه ده. دولت ته لازمه ده، چې انکشافي پروژې د عامه شتمنیو له مخې عملي کړي. پیاوړې یې کړي او د پراختیا لپاره یې ګړندي ګامونه پورته کړي.

**څوارلسمه طرحه**

- د اصلاحاتو په موخه د آساسي قانون سره په تطابق د ځینو قوانینو تعدیل: هره ټولنه د وخت په تېرېدو د یو لړ نویو بدلونونو شاهده ده. د پخواني یونان قانون نه شي کولای، چې د ننۍ ټولنو تشه ډکه کړای شي او یا هم د نن ټولنې د قوانینو بدیل شي. همدا سبب دی، چې د وخت په تېرېدو سره په هر څه کې بدلون راځي او ور سره باید خلک او ټولنې خپل ځان عیار کړي. قانون هم یو له هغه څه دی، چې د وخت په تېرېدو سره د عندالضرورت په آساس باید تعدیل او ورباندې بیا کتنه وشي. د اړتیا په صورت کې نوې مادې ور علاوه شي او که اړینه وي، د وخت او خلکو شرایطو ته په کتو باید یو لړ موارد ځینې حذف شئ، دا کار باید د قانون په هغه موادو کې تر سره شئ، کوم چې د بشر په فکر جوړ شوی وي او همدارنګه یوازې او یوازې دا عمل د اصلاحاتو په موخه وشي او بس.

دا چې آساسي قانون د هېواد د نورو آساسي قوانینو مور ګڼل کیږي، په دې آساس باید په پوره دقت ورته پاملرنه وشئ او د پلي کولو په برخه کې یې هم پرته له ځنډ جدي ګامونه اوچت کړای شئ.

د ښې او غوره حکومتولۍ او همدارنګه په دې برخه کې د مدرنیزم او آسانتیا د راوستلو په موخه حکومت باید د هېواد په نافذه قوانینو د الهي احکامو او د هېواد د آساسي قانون په رڼا کې د اصلاحاتو او ښه والي په پار په ځینو قوانینو له سره کتنه وکړي او د اړتیا په صورت کې یې د تعدیل تصمیم ونیسئ.

**پېنځه لسمه طرحه**

- د برېښنایي حکومتولۍ پراختیا: د نړۍ ټول پرمختللي هېوادونه له برېښنایي حکومتولۍ ګټه اخلي او دې دا ډول حکومتولۍ پر مټ بریالي دي. همدا کار یې د بریا یو له رازونو څخه دی او ددې ډول سېستم څخه یې په ګټه اخیستنه خپلې ډېرې ستونزې له منځه وړي دي. خلکو او په خپلو اداراتو کې په همدې ډول آسانتیا راوستلې ده.

د برېښنایي حکومتولۍ د رامنځته کېدو اړتیا د یونېسکو د ۱۹۹۴- ۲۰۰۱ کلونو په نړېوالو کنفرانسونو کې د زده کړې ، پرمختګ او ښوونیز عدالت د پراختیا لپاره ځینې نظریې مطرح کړې او په هغوی یې ټینګار وکړ، چې ځینې یې په لاندې ډول یادولای شو:

- ✓ د بریالۍ زده کړې د نوښتونو په برخه کې د اطلاعاتو اوبېلابېلو ټولنو د تجروبو د تبادلې پراختیا.
- ✓ د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ له لارې د فقر او ښوونیزې نابرابرۍ کمښت.

د برېښنایي حکومتولۍ طرحه غړو هېوادونو( آسترالیا، فنلنډ، فرانسه، یونان، ایټالیا، جاپان، اسپانیا، ترکیه او ....) آزمایلې او د برېښنایي حکومتولۍ ځینې ګټې یې بیان کړي دي.(۲۰۰۳)

a) د راکړو ورکړو د ګټو رغول.
b) د کارکوونکو د اړتیاوو د ښه درک له لارې د خدماتو رغول.
c) د افرادو په پیاوړتیا هڅه کوي، چې د دولت ځانګړي سیاستونه پایلو ته ورسیږي او له دې لارې د وګړو اطلاعات له نورو سره شریک کړي.
d) د رونټیا د رغولو، د اطلاعاتو د شریکولو د آسانتیا او د دولتونو د داخلي ټکرونو د روښانه کولو له لارې د دولتونو په اصلاح کې مرسته کوي.
e) د دولت او ملت تر منځ د باور د فضا او واټن کمېدو کې رغنده رول لوبوي او په دې برخه کې د پام وړ مرسته کولای شي.

له بده مرغه برېښنایي حکومتولي په افغانستان کې ډېره مخینه نه لري او په دې برخه کې لاهم اداري نظام د قلم، کاغذ او دوسیو پر بنسټ څرخیږي.

له نېکه مرغه دغه ډول حکومتولۍ ته دښاغلي اشرف غني په دوه کې ځانګړې پاملرنه وشه او په دې برخه کې ډېری دپام وړ کار شوی دی.

له دولت مو هیله دا ده، چې په دې برخه کې د ځانګړې پاملرنې تر څنګ پانګونه وکړي او خلکو ته په دې برخه کې لازمې آسانتیاوې رامنځه کړي.

## شپاړسمه طرحه

- د فساد او تبعیض په وړاندې پرته له ځنډ او اغېزمنه مبارزه: فساد په یوه ټولنه کې پر بېلابېلو برخو؛ لکه: سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او پوځي برخو سیوری غوړوي او ټولنه په دغه برخو کې له هر اړخیز پرمختګ څخه منعه کوي. فساد د یوه هېواد ملي بودېجه او له هغه هېواد سره کېدوونکې نړیوالې مرستې له خنډ سره مخ کوي له ملیتوب څخه یې باسي او د څو محدودو کسانو شخصي پانګه یې ګرځوي. د فساد په شتون کې د یوه هېواد ټولې چارې په ځانګړې توګه پرمختیایي چارې له خنډ او ځنډ سره مخ کوي. حکومت ته د ښې حکومتولۍ ادعا د ثبوت لپاره تر ټولو مهم او اړین ګام دی، تر څو د فساد د مخنیوي په وړاندې جدي مبارزه وکړي او په دې برخه کې اړونده ارګانونو ته لازمې سپارښتنې ولري.

افغاني ټولنه له اخلاقي پلوه دومره په ځوړ حالت کې نه وه، چې فساد دې په کې داسې بد وضعیت ته ورسیږي. تېرو جګړو په هره برخه کې ددې ټولنې په خلکو اغېز وکړ او منفي پایلې یې نن د حس وړ دي.

بهرنیو سازمانونو او هېوادونو له افغانستان سره په ډېرو برخو کې مرستې وکړي، ولې د فساد په له منځه وړلو او د مرستو په مدیریت په برخه کې یې هېڅ ډول مرستې ته غاړه ورنه کړه. همدا په لوی لاس د فساد خپرول وو.

د همدې مرستو په زیاتېدو فساد هم لکه د واورې برغولی په سترېدو شو او د دولتي او غیردولتي ادارو په ګډون یې شخصي شرکتو او پراختیایي پروژو ته هم سرایت وکړ، چې په پایله کې یې کیفیت تر وروستي بریده ټیټ او خراب شو. هېواد مو د اداري فساد ککړو هېوادونو په لېست کې شامل او په دې برخه کې د لېست سر ته وخوت.

اوس چې د افغانستان د اقتصادي غوړېدا لپاره هیلې ډېرې شوي دي، دولت ته پکار ده چې ددې شومې او سرایت کووني پدیدې د مخنیوي په برخه کې جدي او له ځنډ پرته مبارزه وکړي او پرېنږدي، چې هېواد مو یو ځل بیا د پخوا په شان د فساد لوړ ګراف مشاهده کړي.

د اداري فساد او بې کفایتی له امله د افغانستان تر ټولو ستر بانک(کابل بانک) سقوط وکړ، چې وروسته د افغانستان بانک له لوري وپېرل شو. په دغه بانک کې څه باندې یو میلیون ډالر ورک شول، چې دا کار د افغانستان په اقتصاد او سیاست د درانه ګوزارونه وو.

له دې ټولو بدبختیو سره سره په دې برخه کې افغان دولت د یو لړ اقداماتو ته ملاوتړه، چې له دې جملې د فساد په وړاندې د مبارزې د عالي ادارې نوم اخیستلای شو، چې په بېلابېلو برخو کې یې د فساد په وړاندې ځینې اغېزمنې هلې ځلې وکړې.

په افغانستان کې د اداري فساد د شتون ستر لاملونه په لاندې ډول ښودلای شو:

1. سیاسي لامل: د سیاسي ثبات نه موجودیت د فساد د سرایت او پیاوړتیا تر ټول ستر لامل دی.
2. اداري لامل: په اداراتو کې د ظرفیت نه موجودیت او نا انډولتیا، د نیمګړي او کم کیفیته اصولو، ضوابطو او سیستمونو شتون، نا ګټور اداري جوړښتونه، د اداري قوانینو او طرزالعملونو پېچلتیا، نا اغېزمن مدیران، د ښایسته سالاری نه موجودیت، د کار کوونکي د استخدام، ارتقاء او امتیازاتو په برخه کې قومي، سمتي او ژبنی تبعیض او د همدارنګه د مکافاتو او مجازاتو په نظام کې نیمګړتیاوې او دې ته ورته نور موارد هم یادولای شو، چې د اداري فساد په پرسوب کې رغنده رول درلودلای شو.
3. تاریخي لامل: پخوا د آسیا، افریقا او لاتیني امریکا هر مخ پر ودې هېواد په یو نه یو ډول د لودیځ تر ښکېلاک اوولکې لاندې و او هر ښکېلاکګر هېواد په دې هڅه کې و، چې که په هره ممکنه وسیله وي، باید د خپلې خوښې اداري سیستم په نوموړو هېوادونو کې پلی کړي؛ خو دا سیستم د یادو هېوادونو له حالاتو سره برابر نه راځي. له بل لوري ښکېلاکګرو هېوادونو هڅه کوله چې د دوي ملاتړي کسان دلته په مهمو پوستونو په دندو وګماري او په هره ممکنه لاره چې وي، هغوي ته لوړ معاش او نور امتیازات ورکړي؛ خو دا کسان به وړ او لایق نه وي، په داسې حال کې چې د ملکي خدمتونو مامورینو ته چې تل له ولس سره په مستقیمه اړیکه کې وي، کم معاش او امتیازات ورکول کیږي. که د دولت ټول مامورین او په تېره بیا ټیټ پوړو ته په کافي اندازه معاش او نور ورته امتیازات ورکړل شي؛ نو دوي به د رشوت اخیستلو او فساد کولو ته اړتیا ونه ویني او په دې آساس شوني ده، چې د فساد کچه تر ډېره را ټیټه شي.
4. اقتصادي لامل: په عامه اداره کې د فساد بل لامل اقتصادي لامل دی، اقتصادي بې ثباتي، پرسوب، د اقتصادي پرمختګ نه موجودیت، د عوایدو او قدرت د خرید کموالی، په ټولنه د عوایدو ناسم وېش او د عامه ادارې د مامورینو اقتصادي ستونزې هم د اداري فساد اقتصادي لاملونه دي.

5. د جوړښت لامل: د صلاحیتونو او سرچینو ناسم وېش ددې لامل ګرځېدلی، چې یو شمېر په حرفوي ډول له نومړو سرچینو د شخصي ـ ګټې لپاره استفاده وکړي، ددې تر څنګ له ولایتونو د خدماتي مرکزونو لرې والی د خلکو د ریښتینو ستونزو د نه پېژندو او له یادو بنسټونو څخه د خلکو د واټن پیدا کېدو سبب شوی دی. د واکونو منطقي وېش د عامه اداري له منل شویو اصولو یو اصل دی، په داسې حال کې چې زمونږ په هېواد کې دغه اصل ته ډېره کمه پاملرنه شوې ده.
6. اداري طرزالعمل: په هېواد کې د فساد ضدو قوانینو کمزوري یا هغوي ته نه پاملرنه د اداري فساد یو بل ستر لامل دی. له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې اړینه ده، چې د اسنادو اوږده پړاونه را لنډ او موازي اداري له منځه یوړل شي.
7. هویتي لامل: قومي، مذهبي، سمتي او داسې نور فکتورونه هم د عامه اداري په وړاندې مخې ته جدي خنډونه راوستي او د اداري فساد لامل ګرځېدلي دي.
8. له راتلوونکي وېره: په اداره کې د شغلي تضمین نه شتون کارکوونکي له خپلو واکونو ناوړه استفادې ته اړ کوي. شغلي ضمانت کولای شي، چې له اداري سره د کارکوونکو تعهد زیات کړي.
9. منفي رقابتونه: په یوه اداره کې منفي رقابتونه او ټولینز تضادونه هم د اداري فساد لامل ګرځي.
10. رواني لامل: ډېر کله په وروسته پاتې هېوادونو کې ماشومان له کورنۍ لازمې او سالمې روزنې څخه بې برخې کېږي او چې کله لوی شي او په داسې وخت کې د یوې اداري مشري ور د غاړې شي، نو له خپل صلاحیت څخه په ناوړه استفادې سره د ځینو پخوانیو چارو د غچ اخیستلو ښه فرصت ګڼي، چې داسې پېښې په کلیوالو او لرې پرتو سیمو کې ډېرې تر سترګو کېږي.

## اووه لسمه طرحه

- د بهرنیو لاسوهنو مخنیوی:

دا چې د نورو هېوادونو په چارو کې نه لاسوهنه او د هغوي عرضي تمامیت ته احترام د ټولو هېوادونو لپاره نړیوال اصل دی، له دې سره سره پرمختللي(زورور) هېوادونه هڅه کوي، چې د وروسته پاتې(کمزورو) هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي، چې همدا ډول کړنې ډېر کله لوی بحران بدلې شوې دي. د بهرنی لاسوهنې د یوه هېواد په پرمختګ رغنده اغېز لري او په دې وسیله د آبادۍ او سوکالۍ په برخه کې د دولت د پلان او پالیسۍ مخه نیسئ.

دولت باید د نورو هېوادونو د لاسوهنو مخه ونیسي او په دې برخه کې ور سره په اصولو مخ ته ولاړ شي.

بهرنی لاسوهنې د تور اقتصاد لپاره زمینه برابروي او په دې ډول فرصت پیدا کېږي، چې په هېواد کې ځینې زورواکي او مافیايي کړۍ له تور اقتصاد څخه تغذیه وکړي.

له بده مرغه د افغانستان په کورنیو چارو کې د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو له لوري په ښکاره لاسوهنه شوې او خپلې شومو موخو ته یې د لاسرسي لپاره له هرې وسیلې کار اخیستلی دی. له بل لوري له ډېره بده مرغه، ډېر کله بهرنیو لاسوهنو ته په کور دننه د یو شمېر مغرضو او فاسدو چارواکو له خوا د لاسوهنې زمینه برابره شوې او په لوی لاس فرصت ورکړل شوی دی.

په دې آساس دولت ده اړینه ده، چې د بهرنیو لاسوهنو د مخنیوي په پار او د دوښمن د شومو موخو د شنډولو لپاره لومړی په کور دننه پردي پال وپېژني او په دولتي چارو کې یې په لوړو موقفونو له ګمارنې ډډه وکړي.

**اتلسمه طرحه**

- د حکومت او خلکو تر منځ د واټن له منځه وړل او د دواړو تر منځ د باور د فضا رامنځته کول:

**ولس جانان کړه نو د ټول ولس جانان به شې**

د ښې حکومتولی تر ټولو بنسټیز او آساسي شرط د حکومت او خلکو تر منځ د واټن په ځرنګوالي کې نغښتی دی. که هر څومره د دغه دواړو تر منځ واټن کابو وي/ شي؛ په همغه کچه به د ښې حکومتولۍ لپاره ښه زمینه برابره شوي وي او د حکومت لپاره به تر ټولو ستره لاسته راوړنه شمېرل کیږي.

بریالي او ټېکاومن حکومتونه هغه دي، چې ولسونه یې تر څنګ ولاړ وي. په نړۍ کې به داسې ډېرې کمې بېلګې ومومو، چې د ولس له ملاتړ پرته دې د حکومت ارابه چلېدلې وي. ځواب ویوونکي حکومتونه له ولس سره تړلي دي او همدا د ولس سره د حکومتونو د تړاو اصل دی.

ټولنیز عدالت، برابري، مساوات، د قومونو تر منځ د هر ډول تبعیض او توپیر له منځه وړل، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي خلاوې ډکول او په نظام کې د افغانستان ټولو قومونو ته د عادلانه ونډې ورکړه هغه څه دي، چې د حکومت او ولس د واټن په کابو کولو کې اغېزمن واقع کېدلای شي.

له ولس سره ښې اړیکې د هېواد په بهرني سیاست هم رغنده اغېز درلودلای شي، چې په اساس یې د مهمو چارو په تر سراوي کې د پام وړ رول او ارزښت لري.

همدارنګه د ښې حکومتولۍ او کامیابو حکومتونو یو راز دا هم دی، چې په کور دننه د خلکو رضایت حاصل کړي او په بهرنیو چارو کې ښې لاسته راوړنې ولري.

**نولسمه طرحه**

- د ښې حکومتولۍ په برخه کې د رسنيو ونډه او همدارنګه په دې برخه کې رسنيو او مېډيا ته د يو لړ نويو قوانينو پر آساس د خپرونو جواز ورکول:

له کله نه چې د رسنيو فعاليتونه په هېواد کې دود شول، له همغه وخته يې د هېواد له خپلواکۍ نيولې بيا تر جنګ تو جګړو، سولې، صحت، طبعي پېښو او داسې نورو موضوعاتو کې ښه او رغنده رول لوبولی دی. ولې د يادونې وړ ده، چې ځينې رسنۍ شته چې د پرديو هېوادونو او دښمنانو په استازيتوب فعاليتونه تر سره کوي او په لوی لاس يو ډول استعمار ته زمينه برابروي. چې دا کړنې ډېر کله په فرهنګي، ټولنيز او آن په سياسي برخه کې هم تر سترګو شوي.

ځينې پوهان رسنۍ د حکومت له اجرايه، مقننه او قضايه قوو علاوه څلورمه قوه ګڼئ. په دې آساس رسنۍ د ښې حکومتولۍ سره د مرستې او همدارنګه د عامه پوهاوي او ډېری نورو مهمو برخو کې خورا ستره ونډه درلودلی شي. پس دولت ته لازمه ده، چې د ښې حکومتولې لپاره له رسنيو څخه په ښه ډول ګټه پورته کړي. د رسنيو د فعاليتونو د څارنې تر څنګ ور سره د ښې حکومتولۍ په برخه کې د نوي او ګټور قوانين رامنځته او وڅارئ.

حکومتي رسنيز دفترونه، رسنيز مرکزونه، ملي راډيو تلويزيون او داسې نور د ښې حکومتولۍ په برخه کې د دولت لاس او پښې دي.

دولتي او شخصي رسنيو ته بايد د يوه چارچوب په شتون کې پکار ده، چې خپلې خپرونې او پروګرامونه د اوسني عصر له غوښتنو سره سم د قانون په چاوکاټ کې تنظيم او پر مخ يوسئ او همدارنګه د ځوانانو، ښځو، ماشومانو، بشري حقونو، سپورت، له دولت سره د خلکو د همکارۍ په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه، د روانو بدبختيو(جګړه او ناوړه اغېزې يې، فقر، فساد، ټولنيزې بې عدالتۍ، قاچاق، قتل، د مخدره موادو استعمال او اضرار يې....) سره د مبارزې په ټولنه کې د دا ډول بدبختيو د کچې کابو کولو لپاره منظم او پر وخت او د عندالضرورت په آساس خپرونې برابرې او خلکو ته وړاندې کړي.

همدارنګه دولت ته پکار ده، چې په اوسنيو رسنيو باندې له سره غور وکړي او په دې برخه ځانګړې پاملرنه ولري. رسنۍ بايد مجبور کړای شئ، تر څو د دولت له سياستونو او پاليسيو سره سمې خپرونې جوړې او تطبيق کړئ، په دواړو رسمي ژبو خپرونې ولري او د ضرورت پر وخت په هېواد کې په نورو غير رسمی ژبو هم خپرونې وړاندې کړي او ددې توان او وړتيا ولري، چې په بحثونو او کردي مېزونو کې د دولت د موقف دفاع وکړای شئ.

## شلمه طرحه

- رڼتيا او اغېزمنتيا:

د ښې حکومتولۍ يوه بله ګټه دا ده، چې خلک په کې هغو بنسټونو ته لاسرسی ولري، چې د خپلو برخليک ټاکونکو پرېکړو صلاحيت ولري. هغه پېښې چې خلک ور څخه نيغ په نيغه اغېزمنيږي، اړتيا ده چې دولت ددې پرېکړو په هکله معلومات په ساده او عام الفهمه ژبه د ملي رسنيو له لارې تر ټولو ورسوي. يو هېواد په هغه وخت په ريښتينې مانا پرمختګ کولای شي، په ټولو چارو کې يې رڼتيا وي او په دې برخه کې ځانګړې پاملرنه ولري.

همدارنګه اغېزمنتيا او کفايت هم د ښې حکومتولۍ يو له عناصرو څخه ګڼل کيږي.

حکومت بايد په دې برخه کې له سرچينو څخه په هغه ډول د ګټې اخيستنې توان لري، چې له مخې يې د يوې ټولنې مهمې اړتياوې پوره شي. همدارنګه له خپلو طبيعي سرچينو څخه هغه ډول ګټه پورته کړ، چې د راتلوونکي نسل سوکالي تضمين کړي.

## يوويشتمه طرحه

- تر ډېره د سياسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنيزو ننګونو له منځه وړل:

زمونږ ګران هېواد افغانستان د خپل ستراتيژيک او جغرافيايي موقيعيت له امله د اور له پاسه نيول شوی او ددې ارزښت د ساتنې مسئوليت بيا د دولت پر غاړه دی. دولت اړ دی، چې ددې مسئوليت ساتنه په پوره اخلاص او کامله توګه تر سره کړي.

اقتصادي ننګونې هم د افغان ټولنې او دولت يو له پخوانيو ننګونو څخه ګڼل کيږي، چې له نيکه مرغه د پخوا په پرتله ورته اوس ډېره پاملرنه شوې او په دې برخه کې دولت ته لازمه ده، چې د لا ښه والي هڅې يې ګړندی کړئ. په دې برخه کې د عامه شتمنيو څخه په ښه ډول ګټه اخيستنه او د بهرنيو مرستو جلب او په ښه بڼه يې څارل او مديريت د يادونې وړ دی، چې مؤثر واقع کېدلای شئ.

له بلې خوا افغان ټولنه يوه طبقاتي ټولنه ده، چې په دې ټولنه کې د خلکو رضايت او د دوی د غوښتنو ارجاع آسانه کار نه دی.

ځينې وخت د دا ډول کثير الاقوامي ټولنې خلک د خپلو شخصي غوښتنو لپاره ملي ګټې قربانوي او غواړي په دې ډول په حکومت کې ونډه ولري.

همدارنګه دودييزې ټولنې د يو لړ ګټو درلودلو تر څنګ ځينې تاوانونه هم لري، چې کله کله  دغه ډول دودونه د ښې حکومتولي په وړاندې خنډ جوړيږي او دولت نه شی کولای،

چې خپل پلانونه تطبیق کړي. لکه په لرې پرتو سیمو کې د نجونو له ښوونځۍ سره مخالفتونه، چې دا ډول مخالفتونه په نالوستو او کم لوستو خلکو په سیمو کې لیدل کیږي.

خو په دې برخه کې ځینې لارې شته، چې له مخې یې په ټولنه کې حساسیتونه وسنجول شئ او له هغې وروسته د ښې حکومتولۍ او پرمختګ ګام پورته شي.

**دوه ویشتمه طرحه**

- له خصوصيِ سکتور سره د اړیکو پراختیا او په دې برخه کې ور سره د یو لړ نویو قوانینو رامنځته کول:

خصوصي سکتور د دولت سره د همکارۍ پر بنسټ د ملا تیر حیثیت لري.

خصوصي سکتور د بېکارۍ د کچې په کابو کولو، په هېواد کې د پانګونې او همدارنګه د هېواد په اقتصادي وضعیت رغنده اغېزه درلودلای شئ. دولت ته پکار ده، چې د ښې حکومتولۍ او همداراز د خلکو ته د ښو خدماتو د وړاندې کولو لپاره باید خصوصي سکتور ته ځانګړې پاملرنه وکړي او په دې برخه کې له خصوصي سکتور سره د یو لړ نویو ګټورو او په ښه حکومتولۍ اغېزمن قوانین رامنځته او وڅارئ او د هغه خصوصي سکتورونو د خپلسرو فعالیتونو مخنیوی وکړي، چې ناقانونه او د هېواد په هر اړخیز وضعیت بد تاثیر کولای شي.

همدارنګه دولت باید له خصوصي سکتور څخه د مالیې د ورکړې بهیر وڅاري او په دې برخه کې د عامه پوهاوي له لارې خلک وهڅوي، چې دولت ته د مالیې د ورکړې تر څنګ په هېواد کې پانګونه وکړئ.

همداراز دولت باید په هېواد کې د کورنیو او بهرنیو پانګه والو د پانګونې لپاره آسانتیاوې رامنځته کړئ او دوي وهڅوي، چې په هېواد کې پانګونه وکړئ.

## درویشتمه طرحه

- د قانون حاکمیت(د قانون جوړول او د هغه پلي کول): د ښې حکومتولۍ او خلکو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره او همدارنګه ددې لپاره چې یوه ټولنه د بقا، پرمختګ او سوکالۍ پر لور روانه شي؛ اړتیا ده، چې ښه قوانین رامنځته کړي او د پلي کولو لپاره یې له ځنډ پرته اغېزمن ګامونه پورته کړي. د قانون د تطبیق بدیل نشته، پس لازمه ده، چې دولت په دې برخه کې غوره قوانین تدوین او د تطبیق لپاره یې له هر ډول تبعیض او توپیر پرته لازم تدابیر ونیسئ.

له نېکه مرغه باید یادونه وکړو، چې په دې برخه کې افغان حکومت له تېرو څو کلونو را په دېخوا اغېزمن کار شوی. افغانستان اوسمهال په هغو ډلو هېوادونو کې راځي، چې مدنیت ته ښکته شوی. مدني ټولنې په کې فعالیت کوي او په دې برخه کې مهم او ګټور تصمیمونه نیسي.

د قانون او نظام شتون په هر څه کې اړین دی او یوه ټولنه او فرد د ښه پرمختګ لپاره باید د قانون چاوکاټ ته واچول شي، تر څو یې پرمختګ یقیني شي. افغانستان په ۱۳۸۲ ل کال کې اوسنی آساسي قانون د ملي وثیقې په توګه ومانه او د ولسمشر له لوري توشېح شو. خو له بده مرغه د پلي کولو په برخه کې بې شمېره ستونزې وې.

د آساسي قانون او نورو قوانینو د نه تطبیق یا په دغه برخه کې د ستونزو تر ټولو ستر لاملونه بهرنۍ لاسوهنې، یرغلونه، کورني کشمکشونه او په خلکو کې په دې برخه کې د لازم پوهاوي نشتون دی، چې له بده مرغه زمونږ ټولنه او هېواد له دې ټولو بدمرغیو برخمن دی.

د قانون حاکمیت د ولس او خلکو غوښتنه ده او هغوي ټینګار کوي، چې قوانین دې له هر ډول تفکیک او توپیر پرته د آساسي قانون د حکم له مخې په ټولو یو ډول پلی شئ. د قانون په ښه او لازم شان پلي کېدو سره ټولنیز عدالت او د خلکو سوکالي تضمینږي.

حکومت ته لازمه ده، چې په دې برخه کې وړ او مسلکي قاضیان او څارنوالان په دندو وګماري او دوي ته د اړونده سپارښتنو تر څنګ تر څنګ پر دوي نظارت هم ولري.

له بده مرغه زمونږ په هېواد کې قانون ډېر کله په عادي وګړو پلی شوی او لوړپوړو یې په وړاندې مخالفت کړی دی. له دې ټولو ننګونو سره سره د خوښۍ ځای دی، چې تېر ځلور پېنځه کلونه د پخوا په نسبت د قانون د ښه تطبیق دوره وه.

په افغانستان کې د کمزوري مدیریت له امله قانون په ښه ډول پلی نه شو او په دې برخه کې ناغیري شوې ده. په همدې آساس زورواکانو جرئت پیدا کړ او د قوانینو په وړاندې سرکشي زیاته شوه. نو په افغاني ټولنه کې د قانون ناسم تطبیق د چارواکو نه جدیت او په خلکو کې په دې اړه د لازم پوهاوي نه شتون دی. دولت ته لازمه ده، چې د قانون د ښه

تطبیق مخکې په خلکو کې د قانون د تطبیق د ارزښت په اړه عامه پوهاوی رامنځته کړي، تر څو خلک دې ته چمتو شي، چې پرته له فشار قانون ته غاړه کېږدي او درناوی یې وکړي.

دولت ته د قانون د حاکمیت لپاره په لنډ ډول ځینې سپارښتنې:

- ✓ د قانون ته د درناوي په موخه خلکو ته د کارپوهانو، قانون پوهانو، رسنیو، مدني ټولنو، سیاسي احزابو او ورته نورو افرادو او ټولنو له لارې د قانون د حاکمیت د ګټو او همدارنګه د قانون د ماتولو د اضرارو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شئ.
- ✓ د زور واکانو او لنډغرېزم جرړې وېستل شئ او د ناقانونه فعالیتونو مخنیوی یې وشئ.
- ✓ د قانون په پلي کولو کې هېڅ ډول تفکیک او توپیر ونه شئ.
- ✓ له پاچاه تر پیاده په ټولو یو شان پلی شئ.
- ✓ قانون باید په هېواد کې برید او سرحد ونه لري او د هېواد په ټولو سیمو کې یو ډول تطبیق شئ.
- ✓ د قانون د ښه پلي کولو او تطبیق په خاطر دولت ته لازمه ده، چې په دې برخه کې د اړونده ادارو ګمارنې په دقت، وړتیا، مسلکیتوب او تجربې په اساس وکړي. د دغه ادارو نظارت او څارل جدي ونیسي او خپل راپور اړونده ادارو ته وړاندې کړي.
- ✓ د قانون د ښه تطبیق لپاره تر ټولو مهمه دا چې، امنیت او ثبات ددغه کړنې لپاره عمده او آساسي عنصر ګڼل کیږي.

پورته ذکر شویو موارد و ته په پام کې نیولو سره او ددغه موادو رعایت به د قانون د حاکمیت په برخه کې ګټور او اغېزمن تمامیږي.[۴]

دولت ته پکار ده، چې د قانون د حاکمیت لپاره هر ډول قرباني ته غاړه ورکړئ، ځکه د قانون له واکمنۍ پرته ښه حکومتولي بې مانا ده.

---

[۴] رحیمي، عبیدالرحمن، غوره حکومتولي. ۱۳۹۷ هـ ش کابل.

## څلورويشتمه طرحه

روغتيايي(صحي) خدمتونه: روغتيا د ژوند تر ټولو ښه شتمني ده. وايئ: سليم عقل په سالم بدن کې وي. دا چې پاک خواړه، پاک چاپېريال او کار کول د روغتيا او ارواييي هوساينې تضمين دی، نو دولت مکلف دی، چې خپلې هلې ځلې د يوه داسې غوره روغتيايي ټولنيز سيستم د جوړولو لپاره او همدارنګه د ټولنې هر غړي ته د نوموړو شرايطو د برابرولو تر څنګ، خلکو ته په وړيا ډول دغه آسانتياوې رامنځته کړي او همدارنګه له بهره د وارېدوونکو درولو په برخه کې د ښه او غوره کيفيت په درلودلو سره د څار او کنترول مرکزونه رامنځته او مسلکي کسان پکې په دندو وګوماري، تر څو په ښه ډول د ستندرد او معياري درملو د واردولو څارنه وکړای شي او د بې کيفيته درملو د واردولو، توليد او خپرېدا مخنيوي وشي.

حکومت ته پکار ده، چې د ښې حکومتولۍ او خلکو ته د ښو او غوره خدمتونو د وړاندې کولو په پار روغتيا ته ځانګړې پاملرنه وکړئ. دا چې ټولنه مو له دې ستونزې ډېره کړېږي، پکار ده، چې دولت ورته ددې ستونزې د ابدي حل لارې چارې ولټوئ.

د روغتيايي سيستم په برخه کې ډېرې ستونزې لا هم شته، چې پاملرنه نه ده ورته شوې. د هېواد روغتيايي چارې د طبي پرسونل او تجهيز له کمبود سره مخ دي او په دې برخه کې بشري سرچينې او وړ کدرو ډېر کم او په نشت حساب دي.

حکومت ته په کار ده، چې په دې برخه کې په ټولنه کې له هر څه وړاندې صحي پوهاوی پراخ شئ او خلک له وقايې سره آشنا شئ. د صحي خدمتونو کيفيت لوړ شئ او په دې برخه کې ځانګړې مسلکي کمېټه رامنځته شئ.

بهرنيو هېوادونو ته د مريضانو تګ راتګ او په دې برخه کې يو لړ ستونزو خلک ستړي کړي. حکومت ته پکار ده، چې په دې برخه کې د هېوادوالو دغه پخوانۍ او لويه ستونزه حل کړي. په هېواد کې د ننه د هر زون لپاره د يوه مجهز او معياري شفاخانو جوړول به زما په نظر دغه ستونزه تر يوه بريده را ښکته کړي.

له موضوع په دې برخه کې د پاکو او د څښاک اوبو کمښت او يا هم په ځينو سيمو کې نشتون دی. دولت ته لازمه ده، چې ددغه ستونزې د حل په موخه اقدام وکړئ، خلکو ته د آيوډين لروونکې مالګې د استعمال سپارښتنه وکړي او د څښاک او صحي اوبو په بيه کې هم د کمښت راوستل لازم دي. د معياري درملو واردول او په هېواد دننه د صحي مرکزونو په سمه توګه کنترول او او څارل به د ښې حکومتولۍ په برخه کې د پام وړ اغېز ولري.

## پېنځه ویشتمه طرحه

- کرنه او مالداري:

افغانستان د آسیا په لویه وچه کې پروت هېواد دی، چې د خاورې ٪۴۶ یې څړ ځایونه، ٪۳ سلنه ځنګلونه، ٪۱۲ سلنه د کرنې وړ او ٪۳۹ سلنه یې غرونو نیولې ده. د افعانستان اقتصاد تر ډېره بریده په کرنه او مالدارۍ پورې تړلی دی، چې د هېواد ٪۸۵ سلنه وګړي یې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. له دې ډلې ٪۱۰ سلنه یې کوچیان جوړوي. کرنه د هېواد په ناخالص ملي تولید کې ٪۱۸ سلنه ونډه لري. په افغانستان کې بېلابېل کرنیز بوټي کرل کیږي، چې په وسیله یې په ملي عاید او کورنیو اړتیاوو په برخه کې مهم رول لري.

د شهید سردار محمد داود خان د حکومت پر وخت د هېواد د کرنې په اړه په یوه څېړنه کې په ډاګه شوې وه، چې د هېواد کرنیزه ځمکه کولای شي، چې د ۷۵ میلونه وګړو لپاره خوراکي توکي چمتو کړي، په داسې حال کې چې د هېواد اوسنی نفوس ۳۴ ملیونه شاوخوا دی. له دې سره سره له بده مرغه مونږ لا هم پر دې نه یوو توانېدلي، چې هېواد د اړتیا وړ خوراکي توکي پخپله تولید کړو.

د هېواد په کرنیز سیستم کې لا هم یو شمېر ستونزې شته چې لا هم ورته د حل لپاره پاملرنه نه ده شوې، چې ځینو ته یې لاندې اشاره کوو:

په کرنه کې پټه بېکاري، د کرنیزو توکو لپاره د سړو خونو نه شتون، د کرنې تر سره کول لا هم په دودیز ډول، د اصلاح شوي تخم نشتون، د کرنیزو بوټو لپاره د درملو نه شتون، کروندګرو ته د پور د ورکړې د آسانتیاوو کمښت، د لېږد را لېږد د وسایلو کمښت، د اوبو په سیستم کې ستونزې، د کرنیزو توکو لپاره د مارکېټ او بازار نه شتون او هلته یې پر وخت نه رسېدل او داسې نور.

دې ټولو ته په پاملرنې دولت اړ دی، چې په هېواد کې خلکو ته د خوراکي توکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره باید په هېواد کې کرنیز سیستم ته جدي پاملرنه وکړي او په دې برخه کې ټولې پرتې ستونزې او خنډونه له منځه یوسئ.

## شپږویشتمه طرحه

- **د ملي عوایدو پراختیا او څارنه:** عواید د ملي بودیجې لومړۍ او تر ټولو ښه سرچینه ده. "د هېواد عایداتي سرچینې باید په بنسټیز ډول تغیر وکړي، څو د ګمرکونو د عوایدو او ګمرکاتو تر منځ انډول په آساسي ډول رامنځته شي." (د ولسمشر ـ ټاکنیز منشور ۵۲ مخ)

حکومت باید د عوایدو، ګمرکاتو او مالیاتو په برخه کې جدي پاملرنه وکړئ او په دې برخه کې روښتیا رامنځته کړي او تر ډېره بریده هڅه وکړي، چې په دې برخه کې د فساد او مفسدینو مخه ونیسئ. د دولت عواید باید په ښه ډول بیت المال ته وسپارل شئ. خلکو ته د عامه پوهاوي له لارې احساس ورکړل شي، چې د مالیې په ورکړې سره دولت پرمختیایي چارې پر مخ وړي او دا مو له دولت سره یو ډول همکاري ده، چې له دې لارې د یوه قوي او مستحکم دولت په جوړولو کې مرسته ده. د مالیاتو د ورکړې لارې چارې باید اسانه شي او خلک وهڅول شئ، چې پر خپل وخت دولت ته مالیه ورکړې او دا ورته زحمت او دروند بار محسوس نه شي.

د هېواد د بودیجې ۴۹ سلنه زمونږ خپل عواید جوړوي او په سلو کې ۵۱ سلنه لا هم په بهرنیو مرستو متکي ده. که حکومت د مالیې په ښه ډول د راټولولو، د فساد له منځه وړلو، د ګمرکاتو په الکترونیکي کولو او څارلو، د پروژو د ښه مدیریت، د اوبو، زېرمو، زراعت، سوداګرۍ او داسې نورو برخو کې اصلاحات راولي، نو کولای شو چې له دې لارې ملي بودیجه له دې لارې تأمین کړو.

## اووه ویشتمه طرحه

- **د نشه یي توکو د استعمال او قاچاق مخنیوی:** اوسمهال نړۍ د نشه یي توکو او هغه کسانو له لوري یرغمل شوې، چې په دې برخه کې د دوي ګټې پرتې دي. افغان حکومت ته پکار ده، چې د نشه یي توکو د مخنیوي په برخه کې اړین او لازم ګامونه اوچت کړئ او په دې برخه کې د یوه مثبت بدلون په لټه کې شئ. افغانستان اوسمهال په نړۍ کې د نشه یي توکو د تولید او کرکېلې په لحاظ لومړی ځای لري او دا زمونږ لپاره خورا اندېښمنوونکې ده. د څېړنو په پایله کې یوازې د شمېرو له مخې هلمند ولایت د نړۍ په سلو کې ۹۳٪ نشه یي توکي په تېره کوکنار تولیدوي. افغان حکومت ته پکار ده، چې ددې ناورین مخه ونیسئ او پرې نه ږدي، چې ددې موادو له امله افغانستان په نړیواله کچه خپل اعتبار له لاسه ورکړي.

له دې علاوه د افغانستان او افغان حکومت لپاره بله مهمه او د اندېښنې وړ موضوع دا چې د هېواد د ټول نفوس ۱۴٪ سلنه پر نشه یي توکو روږدي دي او له ۳ ملیونه وګړو زیات نشه یي مواد کاروي.

له دې ټولو بده دا، چې په افغانستان کې د نشه یي توکو کاروونکي تر ډېره ځوانان دي. لامل هم ممکن همدا وي، چې ځوانان مو وزګار دي.

حکومت اړ دی، چې نور ددې ستونزې مخه ونیسئ. بزګرانو ته باید دې نشه یي توکو د کرکېلې او کښت بدیل وړاندې شئ، تر څو د دوی اقتصادي تشه ډکه کړي. له نېکه مرغه په دې وروستیو کې زعفران کوکنارو ښه بدیل دی او پکار ده، چې په ښه ډول دود شئ او دولت باید په دې برخه کې د بزګرانو لاسنیوي وکړي او لازمې آسانتیاوې ورته برابرې کړئ.

**اته ویشتمه طرحه**

- د سیمه ییزې سیاسي او اقتصادي همکارۍ پراختیا: افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت له امله ډېر کله د سیمې او نړۍ د هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او نظامي رقابتونو په ډګر بدل شوی. ډېرکله نړیوالو دا فکر کړی، چې څنګه په افغانستان او له دې لارې د آسیا په هېوادونو نفوذ او کنترول ولرو او څنګه له دې لارې خپلې ګټې خوندي کړي.

دغه ټولو مواردو ته په کتو افغان حکومت ته لازمه ده، چې په دې برخه کې تر ډېره د هېواد په پرمختیایي او اقتصادي برخه کې د سیمې او نړۍ همکاري تر لاسه کړي.

په هېواد کې د شته سیاسي وضعیت او جګړییز حالت د کابو کولو لپاره افغان حکومت ته پکار ده، چې په دې برخه کې سیمه ییزه همکاري تر لاسه کړي او د سیمې له هېوادونو سره تر ډېره سیاسي تعاملات په پوره دقت وڅاري.

په دې برخه کې چابهار بندر، کاسا زر، رېل پټلۍ، تاپي، لاجوردو لار، هوایي دهلیزونو او داسې نورو برخو کې سیمه ییزې او نړیوالې همکارۍ جلب کړي، تر څو د هېواد لپاره مو اقتصادي ودې لامل شي.

**نه ویشتمه طرحه**

- ښوونه او روزنه: ښوونه او روزنه د یوه هېواد د هر اړخیزې آبادۍ او سوکالۍ آساسي اصل دی، هغه که له هر اړخه وي. د ښې حکومتولۍ یو بنیادي اصل د ښوونې او روزنې پر مټ ولاړه حکومتولي ده. ښوونه او روزنه په یوه ټولنه کې د خلکو د مثبتې مفکورې د جوړولو لامل کیږي. مثبته مفکوره بیا نړۍ شکل ته تغییر ورکولای شي/ ورکړی دی. پس د ښې حکومتولۍ لپاره باید حکومتونه ښوونه او روزنه په لومړي قطار کې ځای ولري. له بده مرغه مونږ نن د ښوونې او روزنې په برخه کې ډېرې تشې لرو او لا هم ورته ځانګړې پاملرنه نه ده شوې. په هېواد کې مو لاهم د ښوونځیو دروازې تړلي، لا مو هم د هېواد ماشومان تر سره

لمر او باران لاندې درس وايي او د ښوونځيو تعمير نه لري. لا هم ډېرى ماشومان مو له لومړنيو زده کړو بې برخې دي، د زده کړو لپاره ښوونکي او سرپناه نه لري. لا هم په ښوونيز نصاب کې ستونزې شته او لا هم په لرې پرتو سيمو کې د ښوونې او روزنې لپاره هېڅ ډول کار نه دى شوى. ډېرى ورته نورې ستونزې هم په دې برخه کې شته.

په دې برخه کې د پوهنې وزارت لپاره د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په پار ځينې سپارښتنې وړاندې کوم او ان شاءالله چې پر بنسټ به يې ښوونه او روزنه په هېواد کې وده وکړي:

- ✓ ۲۴۴
- ✓

**دېرشمه طرحه**

- اقتصادي سياست: اقتصاد د يوې ټولنې په ټولو برخو(سياسي، فرهنګي، ټولنيزې...) کې ډېر ارزښت لري. د يوې ټولنې خپلواکي او حتى له طبعي پېښو سره مقاومت په اقتصادي پياوړتيا او ځواکمنتيا پورې اړه لري.

د يوه حکومت د غښتلتيا او پياوړتيا لپاره اقتصاد تر ټولو مهم عنصر دى، چې په دې آساس اقتصادي کمزورتيا د يوه حکومت د هر ډول بدبختيو مور ګڼل کيږي او پياوړتيا يې د هر ډول پرمختګ بنسټ تشکيلوي.

اقتصادي خپلواکي له سرچينو څخه د کار اخيستنې اراده او توان دى، چې له اقتصادي خپلواکۍ پرته سياسي خپلواکي معنى نه لري. ځکه وايي: احتياج تر ټولو لويه غلامي ده. لوږه انسان د خپلې خپلواکۍ غږ اوچتولو ته نه پرېږدي، ځکه چې هغه د خپلې لوږې غلام دى. مونږ د تېر تاريخ په پوړونو کې د سياسي خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره دوه سوه کاله عملي جنګ کړى دى، له انګريزانو را نيولې بيا تر اوسه، مونږ دوه سوه کاله د خپلواکۍ د لاسته راوړلو لپاره جنګ کړى، يعنى زمونږ دوه سوه کاله ژوند د خپلواکۍ ګټلو لپاره په جنګ کې تېر شوى خو بيا هم مونږ د دغه خپلواکۍ څښتنان نه شوو، دا ولې؟ دا ځکه چې مونږ د خپلواکۍ په معنى نه يوو پوهېدلي او د ساتلو په هنر او چل يې لا تر اوسه پوه نه يوو، د خپلواکۍ په شعور او روحيه نه پوهېږو. که اوس ووايو چې خپلواکي يعنى څه؟ تر هر څه وړاندې بايد لومړى خپلواکي وپېژنو، ابزار(وسيلې) يې وپېژنو او له ګټلو يې د ساتلو لارې چارې او هنر زده او هڅې وکړو. پس حکومت بايد ترهر څه وړاندې د هېواد د اقتصادي پياوړتيا لپاره کار وکړي او په دې برخه کې د لازمو مؤثرو او ممثرو ستراتيژيو د جوړښت تر څنګ په آساسي او بنيادي برخه کې د ملي پانګوالو، نړيوالو ټولنو او ملت د مرستې پاملرنه ځان ته جلب کړي. او همدا راز باور ولري، چې يوازې د پياوړي اقتصاد پر بنسټ د نورو آسانتياوو لار هم پرانيستل کيداى شي. د هېواد په اوسني ويجاړو او وروسته پاتې اقتصادي شرايطو کې د دولتي، شخصي او ګډ اقتصاد

درې واړه ځانګې خپل ځانګړي ارزښت لري او درې واړو ته د نوې رغاونې او هېوادنۍ ودې په لاره کې کلکه اړتيا احساس کيږي. دا چې غرونه، سيندونه، بدياوې، غونډۍ، ځنګلونه، لرغونې نښې، زېرمې، بندرونه، لارې او واټونه د دولت شتمني ده، په دې برخه کې دولت مکلف دی، چې ددغه اړينو ځايونو د ساتلو تر څنګ له هغه څخه سالمه ګټه هم پورته کړي او په دې برخه کې يې د عام المنفعه شتمنۍ په ډول د خلکو د سوکالۍ په منظور وکاروي. حکومت بايد د خپلو خلکو(اړتيا او وړتيا) دواړو ته جدي پاملرنه وکړي او په دې برخه کې د هغوي بشري او فطري غوښتنې په پام کې ونيسئ او د لاسته راوړلو لپاره يې عملي کار وکړي.[۶]

## يو دېرشمه طرحه

- ځوانانو ته ځانګړې پاملرنه: ځوانان د يوې ټولنې د ملا تير حيثيت لري. په افغان ټولنه کې ځوانان د ټول نفوس ۶۰ سلنه تشکيلوي، نو پکار ده، چې په دولت کې هم ونډه په پام کې ونيول شئ او له دغه ځوان پوتنشيل څخه اعظمي ګټه پورته کړي. لوړ دولتي پوستونه هم بايد وړ او بااستعداده ځوانانو ته په لاس ورکړل شئ. د زده کړو او لوړو زده کړو زمينه ورته برابره شئ. اوس مهال مو د ځوانانو په وړاندې عمده ستونزه وزګاري ده، چې له دې ډلې داسې ځوانان هم شته چې د لوړو او نيمه لوړو زده کړو لرونکي هم دي، ولې بيا هم د دولت له لوري ورته نه په دولت او نه هم په کوم خصوصي سکتور کې د کار زمينه برابره شوې ده. له همدې امله مو ډېرى لوستي او کم لوستي ځوانان په نشته يې توکو روږدي شول او يا هم نورو هېوادونو ته يې د تېښتې موزې پر پښو کړلې او هېواد يې پرېښود.

ځوان، سياسي، علمي او اکاډميک شخصيتونه د يوې ټولنې او هيواد معنوي ځواک او شتمني ده، د پرمختګ او سوکالۍ راز د همدغو شخصيتونو له مفکورې الهام اخلي او همدوي د ټولنې د نېکمرغۍ اصلي هسته ګڼل کيږي. ځوانان دي، چې ټولنې ته وياړونه بخښي، ټولنه ورباندې وياړي او د اميد سترګې يې د دوي لور ته کږې وي. هغه وخت به زمونږ ټولنه نېکمرغه او بريالۍ وي، چې مهمې او حياتي چارې يې ځوانې او با احساسه طبقې ته وسپارل شي. د يوې ټولنې پرمختګ او لوړتيا د همغه ټولنې د وګړو په يووالي او انسجام کې نغښتې ده. د يوې ټولنې سوکالي او نېکمرغي هغه وخت په ښه بڼه سره تأمينيدای شي، چې هر وګړی يې په پوره صداقت او خلوص د پرمختګ او سوکالۍ لپاره کار وکړي او خپل امانت يې وګڼي. د سمون لپاره يې بې له کوم امتياز په نظر کې نيولو، پراخ او پاخه ګامونه اوچت کړئ او د خپل توان او وس په اندازه په همدې نيت کار وکړي.

پس دولت ته پکار ده، چې ځوانانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او په اداري چارو کې له همدې ځوان پوتنشيل څخه ګټه پورته کړئ.

---

[۶] رحيمي، عبيدالرحمن، ۱۳۹۷ هـ ش کابل. فقر، ناپوهي او د عامه پوهاوي نشتون د بدبختۍ اصلي لاملونه

**دوه دېرشمه طرحه**

په هېواد کې د ملي او ټولنیز مشارکت د روحیې پیاوړتیا: له هغه وخته چې سیاسي فیلسوفانو د ټولنیز قرارداد نظریه مطرح کړه، باور منځ ته راغی چې په هغه ځمکه(حکومت) کې چې انسان ژوند کوي، هلته د یو لړ حقوقو او امتیازاتو مستحق هم دی، چې دغه حقوق باید دوي ته د دولت له لوري برابر او پرته له کوم توپیر ورکړل شئ. په هره ټولنه کې مختلف قومونه او انسانان ژوند کوي، چې د خپل استعداد، فعالیتونو او ځانګړو وړتیاوو لروونکي دي او د همدې ځانګړنو په لرلو سره د یو لړ حقوقو او امتیازاتو د ترلاسه کولو حق لري، چې باید د دولت له لوري ورکړل شئ. که د دوي دغه حقوق او امتیازات د دولت له لوري نالیدلي ونیول شي، د حکومت په وړاندې ولاړیږي او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره غبرګونونه ښيئ، چې ممکن په هېواد کې د بې ثباتئ او ناامنئ لامل شي. ملي او ټولنیز مشارکت د ښې حکومتولئ لپاره اصل ګڼل کیږي. د داود خان پر حکومت له کودتا وروسته چې کله کمونستان واک تر لاسه کړ، د دوي د نظام له منځه تګ او پارچه کېدل یو دلیل او لامل همدا وو، چې دوي په حکومت کې ملي مشارکت ته پاملرنه ونه کړه او قدرت یې د محدودو څو قومونو تر منځ انحصار کړ او په ملي ـ ټولنیز مشارکت کې یې نخبګان بې برخې کړل. له هغه وروسته هم په نورو نظامونو کې ملي او ټولنیز مشارکت ته ځانګړې پاملرنه ونه شوه او همدا لامل هم و، چې په هېواد کې یې ثبات تأمین نه شو کړای.

دا چې د افغانستان د قومونو، نژادونو او مذهبونو لروونکی دی او د هېواد آساسي قانون هم په افغانستان کې د ۱۴ قومونو د شتون یادونه کړې، ولې بیا هم له دې ډلې یې څلور لوی قومونه چې پښتون، هزاره، تاجک او ازبک قومونه دي، چې د هر یو له یادو قومونو باید په حکومت کې ځان ووینئ.

په هېواد کې ثبات او هوساینې ته د رسېدو لپاره حکومت اړ دی، چې د هېواد ټولو قومونو ته په ټولو مانا احترام ولري او په حکومتي چارو کې ونده ورکړي. په سیاسي مسائلو کې یې شریک کړي او له دې لارې د هېواد ثبات او هوساینه تر لاسه کړي.

---

رحیمي، عبیدالرحمن، غوره حکومتولي، ۱۳۹۷هـ ش. کابل

## درېیمه دېرشمه طرحه

- په نظام کې د ننه د جرمي او استخباراتي شبکو له منځه وړل: له ډېره بده مرغه باید یادونه وکړو، چې په هېواد او نظام دننه یو شمېر پردۍ پاله استخباراتي کړۍ او جرمي شبکې شته، چې زمونږ د هېواد او هېوادوالو ثبات یې له ستونزو سره مخ کړی دی.

دا ډول کړۍ له پخوا زمونږ د نظام په کلیدي ادارو کې په لوړو سیاسي موقفونو کې ځای پر ځای شوي دي، چې ځیني وختونه یې عمل او نظر دواړه ښکاره کړي هم دي. د دا ډول کړیو او شبکو شتون مو هېواد د سخت وضعیت سره مخ کړی او خلک یې اندېښمن کړي دي. دې دا ډول افرادو، کړیو، ډلو ـ ټپلو شتون په هېڅ صورت سره ولس ته د منلو نه دی او له دولت څخه یې جدي غوښتنه ده، چې په دې برخه کې عملي اقدام وکړي او دا ډول افراد، کړۍ او ډلې رسوا او خلکو ته یې څرګند کړي.

دولت ته پکار ده، چې له هرې ممکنې لارې د دا ډول کړیو د کړنو مخنیوی وکړي. جرمي او استخباراتي شبکې د یوه هېواد د نظام ضعف په ملي او نړیواله کچه ثابتوي. د نظام په وړاندې ستر خنډ بلل کیږي او له امله یې هېواد او نظام په نړیواله سطحه خپل سیاسي اعتبار له لاسه ورکوي. پس حکومت باید له هر څه وړاندې د دا ډول کړۍ، افراد او ډلې پرته له ځنډ له منځه یوسئ.

## څلور دېرشمه طرحه

- د حساب ورکوني او حساب اخیستني فرهنګ دودول او ورته جدي پاملرنه:

"حساب ورکونه او حساب اخیستنه د ښې حکومتولۍ یوه مهمه ځانګړنه ده. ملت ته باید حساب ورکړل شئ او له مسؤولینو څخه حساب واخیستل شئ. حساب ورکونه د پرمختللیو هېوادونو له ځانګړنو څخه ده او د وروسته پاتې هېوادونو یو خصوصیت دا وي، چې دولتونه یې بې کفایته وي، د خپلو کړنو په اړوند ملت ته ځواب نه شي ور کولای.

ښه حکومتولي هغه وخت رامنځته کیږي، چې د خپلو چارو په اړه هر کله ځواب ویلو ته چمتو وي. نو په دې آساس حساب ورکونه او حساب اخیستنه دې ښې حکومتولۍ ښه ځانګړنه ده". (د ولسمشرټاکنیز منشور)

پس د ښې حکومتولۍ د درلودلو لپاره باید دولت په خپلو ټولو دولتي او ملکي ادارو کې د حساب ورکوني او حساب اخیستني دود عام کړي او په دې برخه کې جدي سپارښتني او اصول رامنځته او پراخ کړئ.

## پېنځه دېرشمه طرحه

- د ښځو او ماشومانو حقونو ته ځانګړې پاملرنه: همدارنګه په افغاني نر واکه ټولنه کې د اسلام د سپېڅلیو لارښوونو او انساني حقونو د اصولو پر خلاف یو شمیر ناوړه او زاړه دودونه لا تر اوسه بشپړ واکمن دي، چې له امله یې زمونږ د ټولنې په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان قرباني ورکوي او ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی دی.

د ښځو او ماشومانو د حقونو د ننګې لپاره د حکومت پام یو لړ هغه مواردو ته اړوم، چې له بده مرغه نن ورځ یادې طبقې ور سره لاس او پنجه نرموي او په دې برخه کې یې د دوي ژوند له ګواښ سره مخ کړی دی. حکومت یې باید په وړاندې جدي پاملرنه او مبارزه وکړي.

د یو لړ ناوړه اقتصادي ـ ټولنیزو شرایطو له امله ښځې د ژوندانه په بېلابېلو خواوو کې د برخلیک له ټاکلو څخه محرومې کړي دي او د نر تر لاس لاندې یې د پېر او پلور آله ګرځولې ده. دوي(ښځې) له خپلې خوښې پرته ودیږي، قانوني او شرعي سن ته تر رسیدو مخکې ودیږي، د ولور تر نامه لاندې پلورل کیږي، په ډېری سیمو کې لا هم په بدو کې ورکول کیږي. له ډېری ښځو سره له واده کېدو وروسته ناوړه چلن کیږي، د بشر په حیث یې حقونه نه ورکول کیږي او په وړاندې یې د تاوتریخوالي کچه ورځ بلې ته لوړیږي. کونډې په مادي میراث کې شمیرل کیږي او وارث یې په زور او جبر نکاح کوي. په روغتیایي برخه کې هم خورا ستونزې لري او همدارنګه اړینه موضوع دا چې، دوي ته د زده کړو په برخه کې په سلګونو خنډونه پراته دي، چې د دوي په حق کې نه بښوونکې جفا ده. ښځه له خپلو حقوقو څخه بې خبره ساتل کیږي او په دې برخه کې عدلي ارګانونو ته د شکایت له حق څخه هم بې برخې ده. او د داسې نورو ناخوالو سره لاس او پنجه نرموي.

پس دولت باید د ښځو پر وړاندې له دا ډول ناوړه چلن سره مبارزه وکړي او په دې برخه کې یې ټولې ستونزې هوارې کړي. او په ټولنه کې ورته د نورو آسانتیاوو تر څنګ، په لومړي قدم کې د زده کړو زمینه برابره کړي او په دې برخه کې ورته پوره هوساینې رامنځته کړي. همدارنګه هغه بې سرپرسته ښځې چې د سرپرست په نه شتون کې یې ژوند له ګواښ سره مخ دی، دولت یې باید لاسنیوی وکړي او د ژوند ټولې آسانتیاوې ورته برابرې کړي.

همدارنګه د ماشومانو په وړاندې هم ګڼ شمیر ستونزې شته، چې په لنډو څو ټکو کې ورته اشاره کوم او له دولت څخه غواړم، چې په اړه یې جدي پاملرنه وکړي.

لومړۍ ستونزه مو د هېواد د ماشومانو په اړه، د زده کړې په برخه کې ده، چې د څېړنو په آساس شاوخوا درې میلیونه ماشومان مو لا هم د زده کړې له نعمت څخه بې برخې دي او لا تر اوسه په دغه برخه کې ورته په کافي کچه کار نه دی شوی. اوس هم په ماشومانو باندې درانه(شاقه) کارونه تر سره کیږي او په دې برخه کې ډېری بې سرپرسته ماشومان یې قرباني دي. لا هم له ماشومانو څخه د جنګ په کربنو کې ګټه اخیستل کیږي او د جنګي ابزار(وسیلې) په بڼه کارول کیږي.

له بده مرغه لا هم د هېواد په ډېری سیمو کې مو ماشومان د جنسي تیري ښکار ګرځي او په دې برخه کې د ناوړه عمل(بچه بازی) لپاره ساتل کیږي. ددغه قشر یوه برخه په نشه یي توکو په لوی لاس روږدي کیږي او بهرنیو هېوادونو ته استول کیږي. د فقر له امله یې ژوند له بېلابېلو ستونزو سره مخ دی او له دې امله د ژوند له برخلیک ټاکلو محروم شوي دي. دا او دې ته ډېری داسې ستونزې شته، چې د هېوا ګلالي ماشومان مو ور سره لاس او پنجه نرموي. دا چې ماشومان ددې هېواد راتلوونکی دی او د صبا ورځې چارې ور په غاړه دي، نو په دې آساس دولت مکلف دی، چې د دوي د ژوند او بیا ښه ژوند په برخه کې جدي پاملرنه وکړي. ټولې هغه ستونزې او خنډونه له منځه یوسئ، چې د دوي په ورځني او راتلوونکې کې ګواښ ګڼل کیږي. له بده مرغه په افغاني ټولنه کې د ښځو او ماشومانو په وړاندې په هره برخه کې زیات خنډونه لا هم شته، چې کافي پاملرنه ورته نه ده شوې. ددغه دواړو طبقو په وړاندې پراته خنډونه د اندیښنې وړ دي او دولت ته پکار ده، چې په دې برخه کې جدي او ځانګړې پاملرنه وکړي.

لا هم په افغاني ټولنه کې داسې سیمې شته، چې هلته د ښځو او ماشومانو په وړاندې سخت زیاتی روان دی. لا هم نجونې په بدو او له ټاکلي سن وړاندې واده کیږي او له حتی له ډېری انساني او بشري حقونو څخه محرومې ساتل کیږي. د زده کړو له حق څخه بې برخې دي او آن د ژوند لومړنیو اړتیاوو ته لاسرسی نه لري. ښځې او ماشومان د ټولنې اکثریت برخه تشکیلوي. د ښځو او ماشومانو د ظرفیت لوړولو په ځانګړې ډول د ښوونې او روزنې، لوړو زده کړو، حرفوي، مسلکي او تخنیکي مهارتونو او همدارنګه د دوي روغتیایي چارو په برخه کې باید دولت ځانګړې پاملرنه وکړي.

د هېواد د آساسي قانون په ۲۲ مه ماده کې د ښځو او نارینه وو د مساوي حقونو په هکله داسې وایي: ( د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی، د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري).

همدارنګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مسئله ده، چې په دې برخه کې د هېواد په ډېری سیمو کې ښځې ور سره مخ شوي او کیږي.

مونږ وینو چې د هېواد په ډېرې سیمو کې له ښځو سره د رنګارنګ تاوتریخوالي او زور زیاتي تر څنګ، له ماشومانو هم ناوړه ګټه اخیستنه کیږي، ډېر کله د جنسي ځورونې، بچه بازۍ، د جګړو په کرښو او سختو فزیکي کارونو کې کارول کیږي.

په دې برخه کې باید حکومت خلکو ته د عامه پوهاوي د بېلابېلو پروګرامونو په وسیله او په مسجدونو کې د ملا امامانو له لوري له منبر او داسې نورو لارو چارو پر مټ د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره عملي اقدام وکړي. همدارنګه د ماشومانو په برخه کې هم عین عمل په نظر کې ونیسئ او ټولنه له راتلوونکو ناخوالو وژغوري.

## شپږدېرشمه طرحه

- د اوبو مدیریت: له نېکه مرغه افغانستان د اوبو ډېرې داسې د برېښنا فابریکې یا دستګاوې لري، چې د هېوادنۍ برېښنایي اړتیا مرفوع کولای شي.

اوبه د هر هېواد لپاره حیاتي رول درلودلای شي. که د هېواد له اوبو څخه سالمه ګټه پورته شي او په ښه ډول مدیریت شي، ان شاءالله چې په کور دننه به مو ډېرې ستونزې هوارې شي او له دې لارې به مو د هېواد د عوایدو کچه هم لوړه شي.

له نېکه مرغه چې په دې وروستیو کې د اوبو د انرژۍ او په ځانګړې توګه له دغه سرچینې څخه د برېښنا او نورو چارو کې ښه ګټه اخیستنه شوې او هیله ده، چې حکومت ورته د دغه انرژۍ څخه د لا ښې ګټې اخیستنې او پیاوړتیا لپاره د جدي پاملرنې تر څنګ، په دې برخه کې عملي چارې لا ګړندۍ کړي.

همدارنګه دولت له دې سربېره د انرژۍ د نورو سرچینو څخه، چې تېل، نفت، ګاز، باد، د ډبرو سکاره او یورانیمو څخه هم لازمې ګټې پورته کړي او د انرژۍ هغې سرچینې چې لا تر اوسه ګټې اخیستنې ته نه دي وړاندې شوې او یا په کمه کچه ترې ګټه اخیستل کیږي، د ګټې اخیستنې لپاره یې باید لازمې لارې چارې ولټول شي او زر تر زره د ګټې اخیستنې لپاره وړاندې شي.

**اوه دېرشمه طرحه**

- له ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې: دا چې له ګاونډي هېوادونو سره زمونږ دوامداره اړیکې او دوه اړخیزې او ګډې ګټې شتون لري، په دې آساس دولت باید ګاونډي هېوادونه د بهرنۍ تګلارې او کړنلارې لومړی هدف وټاکئ. له دغو شپږو ګاونډیو هېوادونو( تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ایران، پاکستان او چین) پینځه یې اسلامي هېوادونه دي، چې زمونږ سره د نورو اړیکو علاوه دیني اړخ لري او له دوي سره مو اړیکې له نورو هېوادونو ډېرې او هر اړخیزې دي. ددې هېوادونو له ثبات او امنیت پرته د افغانستان ثبات او امنیت ناشونی دی، نو له دې هېوادونو سره په یادو برخو کې جدي کار او تړونونو ته اړتیا ده، چې یادې اړیکې او نېږدېوالی په یوه چاوکاټ کې سره را غونډې شي. د افغانستان په شمال کې له پراتو هېوادونو سره مونږ له پخوا ښې اړیکې لرو، چې ښېلګې یې ټول ملت ته ښکاره او واضح دي. همدرنګه له ایران سره هم زمونږ دیني، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکې شتون لري، چې له اړخه یې خلیج ته د افغانستان یوازینۍ لاره ایران دی.

له دې ګاونډیو یو بل مهم هېواد د افغانستان لپاره پاکستان دی، چې د تاریخ په اوږدو کې له دغه هېواد سره افغانستان په سیاسي کشمکش او لانجه کې ښکېل پاتې شوی. له یاد هېواد سره د پولې په برخه کې هم ډېر پخواني جنجالونه لرو او لا تر اوسه یې حل ته نه یوو رسېدلي. د پاکستان اکثریت سیاسون او چارواکي په دې فکر او عقیده دي، چې په افغانستان کې یو پیاوړی نظام او حکومت د پاکستان په تاوان او ضرر دی. دوي ډېر کله خپلې ګټې د افغانستان په بې ثباتۍ کې کتلي او ددې ادعا د اثبات لپاره اړتیا هم نشته، ځکه هره ورځ ددې ډول پېښو او ښکاره لاسوهنو شاهدان یوو.

په دې آساس په سیاست او حکومت کې ځیني مسائل شته، چې باید ملت یې په اړه تصمیم ونیسي، چې ځیني جغرافیایي مسائل هم ددې برخه ده.

مسئله بیخي روښانه ده، په کور دننه ځیني کړۍ شته، چې د سیمې د استخباراتو په اشاره چلیږي او نه غواړي چې په هېواد کې مو د یوه پیاوړي او قوي نظام شاهدان وأوسي. ځکه که دلته نظام هر څومره پیاوړی کیږي د دوی د شومو اهدافو مخه ور سره ډب کیږي.

د دولت زما نظر دا دی، چې دولت دې په راتلوونکو پینځو کالونو کې له ټولو ګاونډیو او په ځانګړي ډول له پاکستان سره د یوه سیمه ییز تړون موافقې ته ورسیږي، تر څو ګډې ګټې او خپل اهداف له همدې لارې تأمین کړو.

---

رحیمي، عبیدالرحمن، غوره حکومتولي. ۱۳۹۷ هـ ش کابل.

## اته دېرشمه طرحه

- د مرکزي آسيا هېوادونو سره اړيکې: حکومت ته لازمه ده، چې د مرکزي آسيا له هېوادونو سره د ګډو ګټو پر بنسټ اړيکې ورغوي/ وپالي. په ځانګړې ډول د مرکزي آسيا هغه هېوادونه چې د افغانستان سره ګډه پوله هم لري لکه: تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او همدارنګه له قرغزستان او قزاقستان چې ددې هېوادونو اقتصادي پرمختګ، سوله او ثبات زمونږ له هېواد افغانستان سره تړلی دی او په ګډه کولای شو، چې په سيمه کې د ګډ اقتصادي پرمختګ لپاره کار وکړو.

ياد هېوادونه هم د افغانستان په بهرني سياست کې رغنده رول لوبولی شي. زمونږ ژمنه بايد دا وي، چې ددې هېوادونو له وړتياوو په بېلابېلو برخو کې ګټه واخيستل شي او د دوي په مرسته او همکارۍ ځانونه تر هدفه ورسوو.

همدارنګه په دې سره افغان حکومت بايد د افغانستان په اړه سيمه ييزه اجماع هم رامنځته کړي او په دې سره د سيمې هېوادونو ته ثابته کړي، چې په افغانستان کې نا امني او بې ثباتي ټولې سيمې ته ګواښ دی او په دې سره په سيمه کې د اقتصادي پرمختګ لپاره هم د خنډ او ځنډ لامل کيږي.

## نه دېرشمه طرحه

- د نړيوالې همکارۍ جلبول: له افغانستان سره د نړيوالو همکاريو چوکاټ په سياسي اقتصادي او همدارنګه امنيتي برخه کې ډېر د پام وړ دی. افغان حکومت ته پکار ده، چې په دې برخه کې خپله ځانګړې پاملرنه دې برخې ته واړوي. له بله مرغه په دې برخه کې ځينې لاسته راوړنې په تېرو څو کلونو کې افغان حکومت لرلې دي او اړتيا ده، چې د نويو نړيوالو همکاريو په لټه او لاسته راوړنو کې شي. د ۲۰۱۶ کال په جولای کې وارسا، د همدې کال په اپريل کې د افغان حکومت د ملاتړ په تړاو د اسلامي همکاريو سازمان غونډه، بيا هم د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په پينځمه د بلجيم پلازمينه بروکسيل کې د ۷۵ هېوادونو او ۲۶ نړيوالو سازمانونو په ګډون د افغانستان د اقتصادي ملاتړ په موخه ناسته، چې تر ۲۰۲۰ کال پورې له افغانستان سره د ۱۵,۲ مليارد ډالر مرستو ژمنه او په څنګ کې يې له افغانستان څخه د سياسي ملاتړ اعلان او په کابل کې د ښې حکومتولۍ او اقتصادي پرمختګ په تړاو د اړونده هېوادونو منځ د G7+ څلورمه ناسته. دا ټول هغه څه وو، چې په تېرو څو کلونو کې يې له نېکه مرغه د افغانستان په اړه د نړيوالو ذهنيت بدل کړ.

دې او دې ته ورته کړنې پرته له شک د افغانستان په اړه د نړيوالو د پاملرنې جلبېدلای شي. دا چې افغانستان د آسيا څلور لارې حيثيت لري او نړيوال هم لېوالتيا لري، چې د افغانستان له ستراتيژيک موقعيت څخه ګټه اخيستنې په آسيا او نړۍ کې خپلې ګټې وڅاري.

حکومت ته پکار ده، چې د خپلو ملي ګټو په نظر کې نیولو سره له نړیوالو سره د هېواد په ګټه تعامل وکړئ.

## څلوېښتمه طرحه

- خلکو ته د کاري زمینې برابرول: کار کول د هر وګړي حق دی او دولت مکلفیت لري، چې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي. بېکاري زمونږ په هېواد کې یو له سترو لاملونو څخه ده، چې له بده مرغه دغه ناخواله ورځ تر بلې مخ په پراخېدو ده او لا تر اوسه دولت نه دی توانېدلی، چې ددغه ستونزې ګراف او کچه کابو کړي. ددې ناورین که یو لامل جګړه ښودل کیږي له بل لوري د هېواد د هغه پانګوالو مسؤولیت هم دی، چې له هېواده بهر یې پانګونه کړې.

دولت ته لازمه ده، چې خصوصي سکتور دې ته وهڅوئ، تر څو په هېواد کې دننه پانګونه وکړي او په دې سره مو په هېواد کې بېکاره هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي.

له شک پرته د خصوصي سکتور ونډه په دې برخه کې د پام وړ ده. دولت نه شي کولای چې د خصوصي سکتور له همکارۍ پرته ټولو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي. پس دولت ته پکار ده، چې په دې برخه کې د خصوصي سکتور همکاري خپله کړي او خصوصي سکتور ته په هېواد کې دننه د پانګونې لازمې او اړینې آسانتیاوې رامنځته کړي او دې ته یې وهڅوئ، چې په هېواد دننه پانګونه وکړي. له دې سره به نه یوازې هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي، بلکې د هېواد د عوایدو د زیاتوالي په برخه کې به هم ښې لاسته راوړنې ولري.

## یو څلوېښتمه طرحه

- په هېواد کې د عصري دیني مدارسو جوړول او له دولت سره یې ثبت او راجستر:

یو شمېر کړۍ او دولتونه هڅه کوي، چې د دین او مذهب څخه په ګټه اخیستنې او په دې نامه خپلې ګټې وځاري او له دې لارې یې آسانه او آرزانه تر لاسه کړي. دولت باید د هېواد په هر ګوټ کې عصري دیني مدارس جوړ کړي، تر څو بهرنیو هېوادونو ته د دیني زده کړو لپاره د هېوادوالو د تګ مخه ونیول شي او پرې نه ښودل شئ، چې هلته ور څخه ناوړه ګټه پورته شي. د ټولو دیني زده کړو لپاره آن د دوکتورا تر کچې علمي مرکزونه رامنځته شئ او په دې ډول لازمې آسانتیاوې برابرې شئ. دا ډول ټول مدارس له دولت سره ثبت او راجستر وي. په دې کار سره به مو هېوادوال هغه بهرنیو هېوادونو ته چې بل ډول او د نورو اهدافو لپاره ترې کار اخیستل کیږي، وژغورل شي او په خپل هېواد کې

به دغه زده کړې سرته رسوي. له یوې خوا به په ملي روحیه روزل کیږي او له بل لوري به د خلکو او وطن ښه پرې وشي. دولت باید ددې ډول مدارسو له رامنځته کولو سره هېچاته بهر ته په غیر رسمي ډول د دیني زده کړو لپاره د تګ اجازه ورنه کړي.

**دوه څلوېښتمه طرحه**

- د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو د فعالیتونو په اړه د ځانګړو قوانینو او کمیټې رامنځته کول:

سیاسي ګوندونه او مدني ټولنې د یوه دیموکراتیک اصل په توګه د هېوادونو د پرمختګ په برخه کې اړین او ګټور بلل کیږي، په دې شرط چې بې پرې او خپلواک ډول فعالیت وکړي.

سیاسي ګوندونه او ټولنې د یوه هېواد په سیاسي او ټولنیزې اوضاع رغنده مثبت/ منفي تأثیر درلودلای شئ. په دې آساس باید ټول د ټولو سیاسي ګوندونو او ټولنو پر فعالیتونو له سره کتنه وشئ او د فعالیتونو د ارزونې لپاره یې ځانګړې کمیټه رامنځته شئ او له دې لارې یې فعالیتونه وڅارل شئ.

"د سیاسي ګوندونو د فعالیت یو شرط باید دا هم وي، چې د متخصصانو او د سیاسي علومو او اقتصاد پوهانو په یوه لویه غونډه کې باید له خپلو سیاسي تېزسونو او دوکترینو څخه په علمي ښه دفاغ وکړای شي او د یوې ژوندۍ خپرونې له لارې دې خلکو ته قناعت ورکړي، چې دوي له خپلو غړیو، فکري طرحو او تشکیلاتي فعالیته د خلکو د ژوند په مثبت بدلون کې ګټه اخیستلای شي. هر سیاستوال باید وروسته له دې په سیاسي ډګر کې د فعالیت حق ولری، چې د افغان انسان په ګټه په طبیعت او ټولنه کې د مثبت او پرمختګ عملي طرحه وړاندې کړای شي، هله به تاسې وګورئ چې په افغانستان کې څو ګوندونه پاتېږي؛ درې یا څلور". (لېوال، عبدالغفور، انسان مجله، کابل.)

**درې څلوېښتمه طرحه**

- له دولت سره د همکارۍ پروګرام رامنځته کول: دولت له ملت پرته نیمګړی دی او همدا ملت دی، چې د دولت شتون یې یقیني کړی دی. په نړۍ کې به داسې ډېرې کمې بېلګې ووینئ، چې حکومتونه دې د ملت او خلکو له ملاتړ پرته چلېدلي وي. ټیکاومن حکومتونه هغه دي، چې د ملت ملاتړ له ځان سره ولري.

پس قوي او پیاوړي حکومتونه هغه حکومتونه دي، چې له هر څه لومړی د ملت او ولس ملاتړ همکاري ولري. د ښې حکومتولۍ په اصل کې هم غوره دولتونه هغه دي، چې په کور دننه د ملت ملاتړ، ثبات، همکاري او رضامندي ولري او له دې وروسته کولای شئ، په نړیوال سیاست/ ډګر کې ښې لاسته راوړنې هم ولري.

افغان حکومت ته پکار ده، چې د ملت د ملاتړ او همکارۍ د ترلاسه کولو لپاره له دولت سره د همکارۍ پروګرام رامنځته کړي. دغه پروګرام خلکو ته د عامه پوهاوي د ورکولو له لارې او په مسجدونو کې د منبر له لارې پلې کړئ. خلکو ته له دولت سره د همکارۍ ګټې بیان شي او د دولت ـ ملت په دوه اړخیزو راوبطو بحث وشي. په دې برخه کې چاپي، صوتي او تصویري موادو له لارې او همدارنګه د مدیا او ټولو شخصي او دولتي رسنیو څخه په دې برخه کې ګټه واخیستل شئ.

**پای**

کابل، افغانستان

۱۳۹۹، هـ ش